# اوبه او انرژي

د اوبو او انرژي وزارت خپرونکی ارگان

لسم کال اوه لسمه ګڼه، د ۱۴۰۰هـ ش مالي کال څلورمه ربع ( جدی ، دلو ، حوت ) چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري




د اوبو ملي کنفرانس د ځمکې لاندې اوبو د نه ښکاره کیدونکو سرچینو بر بنډولو تر سرلیک لاندې د اوبو او نرژي وزارت د اوبو او انرژي معینانو، د یاد وزارت رئیسانو، د کابینې غړو، د سفارتونو سفیرانو، د پوهنتونونو استادانو او زده کړیالانو په ګډون کې د اوبو او انرژي وزارت د کنفرانسونو په تالار کې ترسره شو.



# د کب د لسمې د دوحې تړون د دوهمې کلیزې په مناسبت د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر ملا عبداللطیف "منصور" پیغام

**الحمدالله و کفی والصلوة والسلام علی عباده الذین الصطفی اما بعد؛** د شکر او خوشحالۍ ځای دی،چې نن له شل کاله اشغال وروسته د هغې معاهدې دوهمه کلیزه په داسې حال کې لمانځو چې له مخې یې اشغالګره امریکا او متحدین یې له افغانستان څخه وتلو او د خپلې ماتې د سند لاسلیک کولو ته اړ شوو. په دې مناسبت د ۱.۱.۱ مشر امیرالمؤمنین محترم شیخ هبةُالله اخندزاده (حفظه الله) ،رئیس الوزرا، د کابینې غړو، د هیواد دفاعي-او امنیتي ځواکونو ،ټولو مجاهدینو، د شهیدانو کورنیو، ټول افغان مسلمان ملت او اسلامي امت ته د زړه له کومې مبارکي وایم.

کله چې امریکا د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر د میاشتې په ۷ نېټه د ټولو بشري او نړیوالو قوانینو تر پښو لاندې کولو او په خپل لاس د جوړې شوې جعلي دسیسې په پلمه زموږ پر هیواد ظالمانه یرغل وکړ، د وخت په تیریدو سره یې د افغانستان د جنګ پای او د ۱.۱.۱ سقوط اعلان کړ، خو د دوی سترګې د ځمکنې واقعیتونو له لیدلو څخه ړندې وې، هغه اور چې امریکا او متحدینو یې مړ ګڼلی وو، سېرغی یې ډېر ژر تازه او د پکتیا ولایت په شاهي کوټ کې یې لمبې ژبغړانده او دیرغلګرو هډونه یې په کې سکاره شول. هو ! د ۱.۱.۱ مجاهدینو د ټولې نړۍ د سیاسي او نظامي تحلیلګرانو د اټکل پر خلاف د شهید بن شهید قوماندان صاحب سیف الرحمن "منصور" تر قوماندې لاندې یرغلګرو او د دوی د بړېڅو پر خلاف د جهادي سنګر په پرانستلو سره ټوله نړۍ حیرانه کړه. شهید قوماندان صاحب سیف الرحمن "منصور" او ملګرو یې پر دې برسېره چې ګڼ شمېر ناټوځېلو ته د خپلو سرونو په کاسو کې اوبه ورکړې، ټولې نړۍ ته یې دا الهام او پیغام ورکړ چې هیڅ مادي ځواک نه ماتېدونکی نه دی، بلکې په هر ځای او هر وخت کې د فرعون، نمرود، چنګیز،انګریز، روس او امریکا د ماتې تاریخ تکرارېدلای شي خو یوازې یو قوي ایمان، غیرت، او د الله ج په ذات باندې توکل ته اړتیا لري. هو ! موږ دا یو ډېر ښه او هیله ښونکی تصادف ګڼو چې، په کومه میاشت کې چې شهید قوماندان صاحب سیف الرحمن " منصور " او ملګرو یې د امریکا او متحدینو په خلاف د جهاد لومړني عملیات پیل کړي وو ،نژدې شل کاله وروسته په همدغه میاشت (د کب په میاشت کې) امریکا د ۱.۱.۱ له مذاکراتي ټیم سره د قطر هېواد په پلازمېنه دوحه کې، له افغانستان څخه د وتلو او اشغال د پای او د خپلو ځواکونو د اېستلو دقیقې نېټې د ټاکلو تړون لاسلیک کړ، چې له مخې یې ټول بهرني یرغلګر زموږ له ټاټوبي څخه ووتل.

په پای کې له لوی او مهربان خدای ج څخه غواړو چې له دې وروسته افغانانو ته په خپل ګران هېواد کې د الهي قانون تر سیوري لاندې هوسا او بسیا ژوند وربه برخه کړي.

---

**الحمدالله و کفی والصلوة والسلام علی عباده الذین الصطفی اما بعد؛** جای بسا شکر و خوشی‌است که امروز بعد از بیست سال اشغال کشور ما توسط اشغالگران، سالگرد امضای آن معاهده را در حالی تجلیل می‌نماییم که به اساس آن امریکای اشغالگر و متحدانش از افغانستان بیرون کرده شدند و به امضای سند شکست خویش مجبور شدند. به همین مناسبت مبارکی خویش را به محترم امیر المؤمنین ۱.۱.۱ شیخ هبةُالله آخند زاده (حفظه الله)، رئیس الوزرا،اعضای کابینه، نیروهای امنیتی و دفاعی کشور، تمام مجاهدین، خانواده های شهدا،تمام ملت مسلمان افغانستان و امت اسلامی تبریک و تهنیت عرض می‌نمایم.

زمانیکه امریکا در هفتم ماه اکتوبر سال۲۰۰۱ م با زیر پای نمودن تمام قوانین انسانی و بین‌المللی و به بهانه جعلی و دسیسه دست ساخته خویش، کشور ما را ظالمانه اشغال نمودند، با گذشت وقت کم جنگ افغانستان و سقوط ۱.۱.۱ را پایان یافته اعلان نموده، اما چشم‌های شان از دیدن واقعیت‌های زمینی کور بودند؛ آن آتشی را که امریکا و متحدان‌اش خاموش شمرده بودند، جرقه‌اش بسیار زود تازه و زبانه آتش‌اش در مرکز شاهی کوت ولایت پکتیا استخوان‌های اشغالگران را به خاکستر مبدل ساختند.

بلی! مجاهدین ۱.۱.۱ تحت قومانده شهید ابن شهید قوماندان شهید سیف الرحمن "منصور" بر خلاف تحلیل گران نظامی و سیاسی تمام جهان با افتتاح سنگر جهاد علیه اشغالگران و نوکران‌شان تمام جهان را متحیر ساختند.شهید قوماندان سیف الرحمن"منصور" و یاران‌شان بر علاوه این که به شمار زیادی از نیروهای ناتو در کاسه‌های سرشان آب دادند، به تمام جهان الهام و پیام دادند که هیچ قدرت مادی شکست ناپذیر نیست، بلکه در هر جا و هر وقت تاریخ شکست فرعون، نمرود، چنگیز، انگریز، روس و امریکا تکرار شده می‌تواند، اما تنها با ایمان قوی، غیرت و توکل به ذات الله(ج) ضرورت می‌باشد.

بلی! ما این را یک تصادف خوب و امیدوارکننده می‌پنداریم که، در ماهی که شهید قوماندان سیف الرحمن "منصور"و یاران‌شان علیه امریکا و متحدان‌شان نخستین عملیات جهاد را آغاز کردند، نزدیک به بیست سال بعد از آن در همین ماه(درماه حوت) آمریکا با تیم مذاکراتی ۱.۱.۱ در پایتخت دوحه کشور قطر ، معاهده خروج از افغانستان، ختم اشغال و مقرر نمودن تاریخ دقیق خروج نیروهای خود را از افغانستان امضا کردند.

در اخیر از خداوند(ج) می‌خواهیم که بعد از این برای افغان‌ها در کشور عزیز ما در زیر چتر قانون الهی زنده‌گی مرفه و آسوده را نصیب‌شان گرداند.

# د دې ګڼې په پاڼو کې


سـرمقاله ---- ۲
د اوبو ملي کنفرانس تر سره شو ---- ۳
د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د ترکيې هیواد له شارژدافیر سره وکتل ---- ۳
د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د SUN RAY ENERGY GROUP شرکت په افغانستان کې ---- ۴
د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د ترکيې هیواد له شارژدافیر سره وکتل ---- ۴
د اوبو او انرژي وزارت او ترکمنستان هیواد د لوړ پوړې پلاوي ترمنځ ګډه ناسته ترسره شوه ---- ۵
پروتوکول سه‌جانبه در راستای بهبود سکتور انرژی؛ بین افغانستان، ترکمنستان ---- ۶
نخستین جلسه کمیته بررسی قراردادهای بزرگ پروژه های انکشافی در وزارت آب و انرژی ---- ۷
د انرژي معینیت اونېزه اداري او تخنیکي ناسته ترسره شوه ---- ۷
د کابل ولایت په بګرامي ولسوالۍ کې څه باندې ۱۵۰ کورنۍ له برېښنا څخه برخمنې شوې ---- ۸
یک پروژه عام المنفعه به ارزش بیش از ۴۵ میلیون افغانی در ولسوالی بگرامی ولایت ---- ۹
د هریرود، پل پښتو او پل مالان په سیمو کې د غیر قانوني ودانیو د جوړولو ---- ۹
د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د چین هیواد د Yellow River شرکت له استازي ---- ۱۰
سرپرست وزارت آب و انرژی وضعیت سکتور انرژی این وزارت را بررسی کرد ---- ۱۰
په اوبو او انرژي وزارت کې د ډیجیټال جوړونې په برخه کې یو بل ګام ---- ۱۰
دیدار سرپرست وزارت آب و انرژی با بزرگان ولسوالی چک میدان وردگ ---- ۱۱
د هیواد د انرژي سکتور د ښه مدیریت او پراختیا په موخه د همغږۍ ناسته ترسره شوه ---- ۱۱
کندز ولایت کې دخوراک په مقابل کې د کار ملي پروګرام په اړوند ---- ۱۲
انجام سروی ابتدایی بندهای ذخیروی آب، کانال‌ها و چکدم ها در ولایت زابل ---- ۱۲
د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د دې وزارت د لاسته راوړنو او فعالیتونو ---- ۱۳
دیدار سرپرست وزارت آب و انرژی با رئیس موسسه ادف کشور ترکیه ---- ۱۴
د اوبو او انرژي وزارت د IT رئیس معرفي شو ---- ۱۴
د ننګرهار ولایت د کامې پله د هایدرومیتیولوژي کیبلوي استیشن د اوبو د جریان ---- ۱۵
به منظور جمع آوری ارقام استیشن هایدرومیتیولوژی سلطانپور ولایت ننگرهار ---- ۱۵
بیلي کانال د روانو چاروڅخه څارنه ترسره شوه ---- ۱۵
د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر سره ځانګړې مرکه ---- ۱۶
موجودیت و وضعیت منابع آب در افغانستان ---- ۱۸
سیلاب و خشکسالی و بررسی چالش ها و پیامد های آن در کشور ---- ۲۰
ښه مدیریت، ښه اقتصاد، ښه اداره ---- ۲۲
د ځـمـکـې په کـره کې د اوبو شـتـون ---- ۲۴
هلمند اوبو تړون تطبیق پر وړاندې خنډونه او حل لارې ---- ۲۶
د اوبو انرژي وزارت د اوبو معین سفر ترکيي هیواد ته ---- ۲۹
محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر (آخندزاده) معین وزارت آب و انرژی و هیئت همراهش در استانبول ---- ۲۹
دیدار معین انرژی وزارت آب و انرژی با والی ولایت سرپل ---- ۳۰
رئیس حوزه دریایی ارغنداب از بند دهله نظارت نمود ---- ۳۱
د اوبو او انرژي وزارت د اوبو د کیفیت او د خاورې میخانیک لابراتوارونه بیرته فعاله شول ---- ۳۱
انجام سروی ابتدایی بندهای آغاجان و تور در ولایت ارزگان ---- ۳۱
جلسه مشترک در مورد حل مشکلات پروژه برق رسانی ولایت بدخشان برگزار گردید ---- ۳۲
د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین په حضور کې د هایدرولوژي ملي کمیتې ناسته ترسره شوه ---- ۳۲
نشست سرپرست وزارت آب و انرژی با روسای د افغانستان برشنا شرکت پیرامون فیصله ---- ۳۳
د هرات برېښنا حوزوي رئیس د اوبو او انرژي وزارت له سرپرست وزیر سره وکتل ---- ۳۳
سرپرست وزارت آب و انرژی با معین علمی وزارت تحصیلات عالی دیدار کرد ---- ۳۳
معین انرژی وزارت آب و انرژی به اعضای انجمن بازارگانان و صنعت کاران مستقل ترکیه ---- ۳۴
د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د پاشدان بند له پروژې څخه لیدنه وکړه ---- ۳۴
نخستین جلسه کمیته بررسی قراردادهای بزرگ پروژه های انکشافی در وزارت آب و انرژی ---- ۳۵
د افغانستان برېښنا شرکت د اساسنامې د تعدیل په موخه ---- ۳۵
د اوبو او انرژي وزارت د رهبري مقام په حضور کې د مدیریتي معلوماتو ---- ۳۶
جلسه معرفتی و اداری میان رئیس عمومی مالی و اداری وزارت آب و انرژی ---- ۳۶
د لغمان ښیرازۍ لپاره ستر ګامونه واخیستل شول ---- ۳۷
هماهنگ کننده پروژه های نیروگاه کشور ایران علاقه مندی خویش را به سرمایه گذاری ---- ۳۸
د اوبو او انرژي وزارت سرپرست د لوګر له والي سره وکتل ---- ۳۸
د اوبو او انرژی سرپرست وزیرمحترم ملا عبداللطیف منصور میدان وردګو والي سره ---- ۳۹
معین انرژی با یکی از شخصیت های علمی، روحانی و جهادی کشور دیدار کرد ---- ۳۹
رئیس جدید دفتر مقام وزارت آب و انرژی به همکاران معرفی شد ---- ۴۰
رئیس جدید برنامه های انرژی وزارت آب و انرژی به همکاران معرفی شد ---- ۴۰
رئیس جدید ریاست منابع بشری وزارت آب وانرژی ۱.۱.۱ معرفی شد ---- ۴۱
په تخار ولایت کې د نمک آب د سیند غاړې د تېنګونې پروژه د ۶ میاشتني ځنډ وروسته بیا پیل شوه ---- ۴۲
استیشن هایدرومترولوژی متون حوزه فرعی خوست به صورت کامل فعال گردید ---- ۴۲
سروی دومین پروژه بزرگ به سطح کشور (بند سرده) تکمیل وکارهای عملی آن آغاز گردید. ---- ۴۲
سروی دومین پروژه بزرگ به سطح کشور (بند سرده) تکمیل وکارهای عملی آن آغاز گردید. ---- ۴۳
سرپرست وزارت آب و انرژی با بزرگان اقوام ولایت پکتیکا دیدار نمود. ---- ۴۳
د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د دایکندي له والي سره وکتل ---- ۴۳
دیدار معین انرژی و زارت آب و انرژی با مشاور تجارتی و اقتصادی سفارت روسیه ---- ۴۴
ا د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د SUN RAY ENERGY GROUP شرکت په افغانستان کې د پانګونې ---- ۴۴
جلسه معرفتی و اداری میان رئیس عمومی مالی و اداری وزارت آب و انرژی، روسا و کارمندان ---- ۴۵
تیم مشترک تخنیکی ریاست های عمومی منابع آب و حوزه عمومی دریایی کابل ---- ۴۵
د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معین د کابل پولی تخنیک پوهنتون دپلاوي سره د ګډې همکارۍ په موخه وکتل ---- ۴۶
جلسه هماهنگی به منظور نهایی سازی تشکیل وزارت آب و انرژی برگزارشد ---- ۴۶
د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معین د Anadolu Federasyonu خیریي موسسي ---- ۴۷
در مناطق مختلف ولسوالی نرخ چهار پروژه بازسازی و پاک کاری ---- ۴۷
جلسه هماهنگی به منظور تهیه پلان کاری پنج ساله و سالانه در معینیت انرژی وزارت آب و انرژی ---- ۴۸
د زرمت ولسوالۍ د استوګنې په سیمه کې له اوبو څخه د ګټې اخیستو درې نوې تولنې رامنځته شوې ---- ۴۸



## د امتیاز خاوند: د اوبو او انرژۍ وزارت

**مسؤول مدیر:** خواجه فقیر محمد "صدیقی"

**دهیئت تحریر تر نظر لاندې:**

قاری محمد عبدالعزیز "عزیز"

انجنیر همت الله "امین زی"

اسدالله "زیرک"

انجنیر میرویس "میرزاد"

سید عطاالله "صدیقی"

برکت الله "آریوبی"

**سموونکی :** عبدالولی "نبی زاده" او بازمحمد " درمل "

**راپور ورکوونکی :** نعمت الله " اخلاقی" او اسدالله "ایوبی"

**عکس اخستونکی:** محمد حکیم "فیض"

توزیع کوونکی: سیدعادل "سادات"

**آدرس:** سرک عمومی دارالامان



**ایمیل پته:**

chiefofstaff.nwara1398@gmail.com

**د اړیکو شمیره :** ۰۷۰۷۳۵۴۹۱۶

۰۲۰۲۵۲۶۰۰۱


**درنو لوستوونکو!**

**د اوبه او انرژۍ مجلې او میاشتنی جریدې د سافټ موندلو لپاره کولای شئ د دې ادراې ویب سایټ ته مراجعه وکړئ.**

# سـرمقاله

## درنو هیوادوالو او د اوبه او انرژي مجلې لوستونکو!

### اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

لکه څرنګه چې ټول هېواد وال په جریان کې دي چې له تېرو څه د پاسه څلورلسیزو څخه ز مونږ هېواد والو (بې له یوې لنډې زماني مقطع څخه)، د مرګ تر سیورې لاندې ژوند کاوو، په هیواد کې بېلابېلې واکمنې موجودې وې؛ د واک او ځواک مختلفو جزیرو شتون درلود، هر زورواکي د ژبې ، سمت او .... پر بنسټ ځان د خپل نفوذ په جغرافیه کې ټولواک باله، سیاسي ، نظامي، اقتصادي او ... واکمنې د څوګوتو په شمېر زورواکو په انحصارکې وه او هر یوه یې د ملي وحدت ، ملي حاکمیت اوارضي تمامیت لپاره پخپل قاموس کې بېل ،بېل تعریف درلود ، خو واقعیت داوو چې د واک او ځواک مېنانو که په خوله هر څومره خواږه شعارونه ورکول خو عمل یې له شعار سره د ځمکې او آسمان هومره توپیردرلود.

د هېوادوالو ژوند ،سر، مال، عزت، ملي وحدت، ملي حاکمیت ، ارضي تمامیت، دیني او ملي مقدسات او ملي افتخارات هره شېبه د نابودۍ له درانه خطر او ګواښ سره مخامخ وو.

ډېر وطن پلورونکي مو د دین ،هېواد، استقلال او ملي شتمنیو د پلورلو او خپلې خیټې د ډکولو لپاره له بهرنیو سوداګرو سره په معاملو بوخت وو، څوک مو دیني او ملي مقدساتو ،څوک مو ملي کلتور، عنعناتو او ملي ترمینالوجي ته غله وو او څوک مو د ګران هېواد له ټولو مادي او معنوي شتمنیو سره تر ستوني تېرولو او د نړۍ له انځې (نقشې) څخه محوکولو ته په پلانونو بوخت وو.

خو د لوی خدای ج اراده څه بل ډول وه، هغه دا چې لمړی خدای (ج )روسان پخپل شوم پلان کې ناکام او له خپلو مزدورانو سره د رسوا ماتې او مخ تورۍ په ډګر و درول او ورپسې یې د معاصرې نړۍ یکه تاز زبر ځواک د امریکا ناټو او د دوی داخلي ځېره خواره مات او وشرمول. او له نژدې شل کلن اشغال وروسته پرغلګر، مات، رسوا او په شرمونو وشرمېدل او اصیل مؤمن افغانان په خپل هېواد کې د واک او ځواک پرګدۍ کیناستل.

هو! که پرون مو پر هېواد باندې کفار او لاسپوڅي یې حاکمان وو، نن الحمدالله د هغوی حاکمیت ته د پای ټکی اېښودل شوی او خپل مؤمن او مجاهد هېوادوال د دې خاورې او ولس حاکمان دي.

که پرون مو کور، کلي شتمني او... هر څه نا اهلو دلالانو د پلور لپاره په سوداکې اچولي وو، نن مو دا هر څه بېرته خپل او څوک په چپ نظر هم نه شي و رته کتلای.

نو دا چې له ۴۳ کلونو وروسته مو د لمړي ځل لپاره ټول هېواد تر یوې

اداري او یوه بیرغ لاندې راغلی نو پر مونږ باندې لازمه ده چې؛ له تېر ېېر څخه ژور درس واخلو او د راتلونکې لپاره په ګډه دهېواد او هېوادوالو ښېرازي او سوکالي لپاره ملا وتړو.

تېر هېر کړو او نن په سړو مغزو د پرونۍ تجربې په رڼا کې د هېواد او هېوادوالو د سبا لپاره لاره او لوری وټاکو.اړ یو چې ټول باید د خپل دیني، ایماني او ملي وجایبو پر محور را ټول او یو لاس شو.

دا چې مونږ ټولو افغانانو د همدې هېواد له غلو، دانو، مېوو او اوبو څخه خوړلي او څښلي دي، ټولو د همدې هېواد له هوا څخه تنفس کړی دی، او همدغه هېواد زمونږ د ټولو پېژند نښه ده.

نو راځئ چې ټول یو بل په غېږ کې ونیسو، لاسونه سره ورکړو او زمونږ هر یو چې دهېواد د بیارغوني، اداري، اقتصاد زراعت، تجارت، صنعت، ښوونې او روزنې، سیاست، ډیپلوماسي او سپورت هره بله برخه کې څه کولای شي، باید و ئې کړو، ترڅو چې پخپلو متو، خپلو امکاناتو، خپل زیار او خپل نوښت خپل هېواد د ژوند په هر ډګر کې له سیالانو سره سیال کړو او دا زمونږ ټولو دیني او ملي مسؤلیت دی؛ او هیڅ یو مسلمان افغان باید له دغه مسؤلیت څخه په شا نه شي.

د ۱.۱.۱ د اوبو او انرژي وزارت پخپل ټول توان سره هڅې کوي چې د هېواد د نورو ادارو په څېر د خپل هېواد د آبادۍ، سوکالۍ او پرځان بسیاینې لپاره رغنده اومتین ګامونه واخلي او هېواد د نړۍ د پرمختګ له کاروان سره ملګری کړي.

یاد وزارت د اوبو او برېښنا په برخه کې خپلې ټولې رواني پروژې درجه بندي کړې دي. لمړی به پر هغو پروژو کار کوي چې د کارونو زیاته فیصدي یې ترسره شوې، او تر هغه وروسته به په ترتیب سره د نورو پروژو د ترسره کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي، البته په دې لاره کې د امارت او ملت مرستې، مشورې او همکارۍ ته ځان اړ ګڼي.

هیله ده چې درانه هېوادوال په تېره بیا ملي پانګه وال، ملي سوداګر او فني او مسلکي هېوادوال د هېواد د بیارغونې او پرمختګ په لاره کې خپلې مرستې او مشورې ونه سپموي او په اخلاص سره، د ورور ولۍ په فضا کې له مونږ سره مرسته او ملګرتیا وکړي؛ ترڅو چې د هېواد تر بشپړ استقلال او شرعي نظام تر حاکمیت وروسته د هېواد د بیارغونې او سمسورتیا په برخه کې هم یو نوی او زرین باب پرانیزو.

و ماذالک علی الله بعزیز

"حق پرست"

# د اوبو ملي کنفرانس تر سره شو













د اوبو ملي کنفرانس د ځمکې لاندې اوبو د نه ښکاره کیدونکو سرچینو بر بنډولو تر سرلیک لاندې د اوبو او نرژۍ وزارت د اوبو او انرژۍ معینانو، د یاد وزارت رئیسانو، د کابنیې غړو، د سفارتونو استازو، د پوهنتونونو استادانو او زده کړیالانو په ګډون نن د اوبو او انرژۍ وزارت د کنفرانسونو په تالار کې ترسره شو.

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د ویډیو کنفرانس له لارې د اوبو د اهمیت په زراعت، سوداګرۍ، صنعت، برېښنا، انرژۍ، سیمه ییزې همکاریو په هکله خبرې و کړې زیاته یې کړه، چې اوبه په اوسني وخت کې ډېر ارزښت لري او مونږ د نړیوالو قوانینو مطابق د هېواد اوبو مهارولو ته ژمن یو.

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر چې په دې کنفرانس کې یې د ویډیو کنفرانس له لارې خبرې کولې د اوبو او نرژۍ وزارت د لاسته راوړنو په هکله د ۱.۱.۱ له واکمنیدو تر اوسه پورې خبرې وکړې او زیاته یې کړه دې وزارت د اوبو او انرژۍ په برخه کې په لسګونو مشخصي کړنلارې یې وروستی کړې او همدارنګه د اوبو د سرچینو پېژندلو او تنظیمولو کې یې مهم ګامونه پورته کړي دي.

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر په دغه کنفرانس کې زیاته کړه د برېښنا د قرارداد د غځیدو په هکله له ازبکستان او ایران هېوادونو سره خبرې وشوې او همدارنګه د اوبه ییزې حکومتولۍ د پیاوړتیا او د وزارت د راتلونکي پلانونو په هکله یې هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د اوبو او نرژۍ وزارت د انرژۍ معینیت احیا د وزارت له لاسته راوړنو څخه وبلل او څرګنده یې کړه چې د انرژۍ معینیت کې متخصص کسان ګمارل شوي.".

له بلې خوا، د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر د اوبو ملي کنفرانس کې د یاد معینیت د راتلونکي پلانونو او د هېواد د اوبو د مهارولو کې د نړیوالو قوانینو په مطابقت کې خبرې وکړې، زیاته یې کړه؛ مونږ د هېواد د اوبو د مهارولو لپاره لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله پلانونه جوړ کړي دي.

د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین په دغه کنفرانس کې د وزارت د لاسته راوړنو په هکله خبرې وکړې او زیاته یې کړه، چې په فراه ولایت کې د بخش آباد بند او په هرات ولایت کې د پاشدان بند چارې به ډیر ژر پیل شي

په ورته وخت کې، د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو د سرچینو عمومي رئیس ښاغلی ډیپلوم انجنیر فایزالرحمن عزیزي او د ځمکې لاندې اوبو رئیس ښاغلی عزیزالرحمن عزیز د استراتیژیکو محورونو، د ځمکې لاندې اوبو مدیریت او همدارنګه د۱۴۰۱ لمریز کال د اوبه ییز وضعیت په هکله د دوو پرزنتیشونونو په وړاندې کولو سره په هر اړخیز ډول لازم معلومات وړاندې کړل.

د دغه کنفرانس  په دوام کې یو شمېر متخصصینو، کارپوهانو او د پوهنتون استادانو د هېواد د اوبه ییز وضعیت او د ځمکې لاندې اوبو د غوره مدیریت په هکله د څو پرزینتیشنونو په وړاندې کولو سره ګډون والو ته لازم معلومات وړاندې کړل.

د اوبو او انرژۍ فصلنامه
لسم کال اوه لسمه گڼه، د ۱۴۰۰هـ ش مالي کال څلورمه ربع چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري

# د ا.ا.ا د بهرنیوچارو سرپرست وزیر مولوي امیر خان متقي او د ا.ا.ا د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر ملاعبداللطیف منصور د افغانستان لپاره د ایران د ولسمشر ځانگړي استازي ښاغلي حسن کاظمي قمي سره په کابل کې وکتل



**په دې کتنه کې دواړو خواو د افغانستان په اقتصادي وضعیت ،سیاسی اړیکو او په هېواد کې پر وروستیو مثبتو پرمختگونو باندې خبرې وکړې.**

---

# د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین د ترکیې هېواد له شارژدافیر سره وکتل

د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو معین ښاغلي انجنیر مجیب الرحمن عمر د خپل کار په دفتر کې د ترکیې هېواد له ښاغلي شارژدافیر سره لیدنه ترسره کړه.

د اوبو معین د ترکیې هېواد شارژدافیر ته د ښه راغلاست ترڅنگ یادونه وکړه، دا چې ترکیه په تېر کې د اسلامي خلافت مرکز پاتې شوی دی، نو بناً اوس هم باید له مسلمانانو سره مرسته او یو د بل لاس نیوی وکړي.

په دغه ناسته کې، د اوبو معین ښاغلي عمر د ترکیې هېواد له شارژدافیر سره یاد هیواد ته د خپل سفر په هکله خبرې وکړې او له ښاغلي شارژدافیر څخه یې وغوښتل چې ترکیې ته د دوی د سفر په ترڅ کې د یاد هېواد له پانگه والو او سوداگرو د اتحادیې سره دوی ته د ناستې زمینه برابره کړي، ترڅو د ترکیې سوداگر او پانگه وال په افغانستان کې د اوبو بندونو او انرژۍ په برخه کې پانگونې ته را جلب او تشویق کړئ.

په ورته وخت کې د ترکیې هېواد ښاغلي شارژدافیر د اوبو او انرژۍ وزارت ښاغلي معین سره د هر راز همکارۍ ژمنه وکړه.



د یادولو وړ ده، چې دا ناسته په دوستانه فضا کې پای ته ورسیده.

د اوبو او انرژي فصلنامه
لسم کال اوه لسمه گڼه، د ۱۴۰۰هـ ش مالي کال څلورمه ربع چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري

# د اوبو او انرژي وزارت او ترکمنستان هیواد د لوړ پوړي پلاوي ترمنځ گډه ناسته ترسره شوه



دا ناسته د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف "منصور"، د افغانستان برېښنا شرکت عمومي رئیس ښاغلي حافظ محمد امین، د برېښنا شرکت عملیاتي رئیس ښاغلی انجنیر صفی الله "احمدزی" ، د برېښنا شرکت تجارتي رئیس ښاغلی مولوي عبدالرحمن "رحماني"، د ترکمنستان هېواد د انرژي نړیوالو پروژو رئیس ښاغلي مراد ارتیکوف، په کابل کې د ترکمنستان سفیر ښاغلي عوضوف او د دواړو هېوادونو د یو شمېر چارواکو ترمنځ ترسره شوه.

په دې کتنه کې د دواړو لوریو ترمنځ د گډو همکاریو په ځانگړې ډول د نور الجهاد سبسټېشن د جوړولو پروژې، د تاپ پروژې د تطبیق، کابل ته د کرکي-اندخوی د برېښنا د مزي د انتقال او افغانستان ته د برېښنا د صادراتو د زیاتوالي په اړه د همکاریو په پراختیا بحث او د نظرونو تبادله وشوه.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف "منصور "د ترکمنستان هیواد پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د دوی د دوامداره همکاریو یې مننه وکړه، او د یادو پروژو پر دوام او تطبیق یې ټینگار وکړ.

په همدې حال کې د ترکمنستان هېواد لوړ پوړو چارواکو د اوبو او انرژي وزارت سرپرست ته د دغه هېواد د همکاریو د دوام ډاډ ورکړ او ویې ویل، چې د دغه سفر په ترځ کې به د نور الجهاد د سبسټیشن پروژې د قراردادپر وروستي کیدو او د تاپ پروژې پر تطبیق باندې کار وکړي.

په پای کې د دواړو لوریو توافق وکړ چې د دواړو لوریو تخنیکي کمېټې د یادو پروژو پر پلي کیدو باندې کار وکړي او په راتلونکي کې گډې همکارې پراخې کړي.

# نشست رهبری برشنا شرکت با مسئولین جنکشن‌ها به منظور از بین بردن فساد و کم نمودن ضایعات برق



حافظ محمد امین ، رئیس عمومی اجرائیوی د افغانستان برشنا شرکت طی نشستی با مسئولین جنکشن‌ها تاکید نمود که باید جلو فساد و ضایعات برق گرفته شود. وی از تمام مسئولین جنکشن‌ها خواست که به منظور گسترش برق‌رسانی و جمع‌آوری عواید به روند قطع نمودن برق مشترکین قرضدار و لین‌های ترو ادامه دهد و در این راستا کوشش همه جانبه نمایند.

هم‌چنان رئیس عمومی برشنا شرکت افزود کسی که موارد فوق را در نظر نگیرد، برخورد قانونی با آن صورت خواهد گرفت.

در همین حال، انجنیر صفی‌الله "احمدزی"، رئیس عملیاتی برشنا شرکت گفت، در از بین بردن فساد اداری و کم نمودن ضایعات برق باید همه باهم به گونه مشترک کار نماییم و نگذاریم که مسایل فوق خدمات برق‌رسانی را مختل نماید.

وی افزود که باید فاصله میان مسئولین و مشتریان از بین برده شود، مامورین میترها باید به د قت میترها را بخوانند، کلیدهای صندوق ها باید همرای مسئول ساحه باشد، با دزدان برق و آن کارمندانی که زمینه فساد را مهیا می‌نماید باید رویه قانونی و جدی صورت گیرد.

از سویی هم، مولوی فضل الرحمن"فضلی"، رئیس کابل برشنا تاکید نمود که رهبری برشنا شرکت به منظور کم نمودن ضایعات برق به روند قطع نمودن برق لین های ترو و میترهای باقیدار ادامه می دهد و با عاملان اینچنین قضایا برخورد قانونی صورت می گیرد.

قابل یادآوری است که از چند روز بدینسو از طرف کارمندان د افغانستان برشنا شرکت در مرکز و ولایت‌ها، ده‌ها لین ترو و میترهای باقیدار قطع گردیده است.

# پروتوکول سه‌جانبه در راستای بهبود سکتور انرژی؛ بین افغانستان، ترکمنستان و کمپنی چالیک به‌امضا رسید



مذاکرات چهار روزه میان هیئت‌های د افغانستان برشنا شرکت، کشور ترکمنستان و کمپنی ترکی چالیک موفقانه به پایان رسید.

حافظ محمد امین رئیس عمومی اجرائیوی د افغانستان برشنا شرکت با حضور محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزیر آب و انرژی، قرار داد توسعه سب استیشن نورالجهاد را از ظرفیت ۱۱۰ به ۲۲۰ کیلوولت با شرکت ترکمن انرگو امضا کرد.

نخست، حافظ محمد امین رئیس عمومی اجرائیوی د افغانستان برشنا شرکت از نمایندگان شرکت ترکی چالیک و هیئت کشور ترکمنستان بابت تشریف‌آوری‌شان به افغانستان سپاسگزاری نموده و پیرامون شماری از پروژه‌های مهم با تیم‌های تخنیکی شرکت برشنا بحث‌های مفصل نمودند.

سپس ملاعبداللطیف منصور سرپرست وزیر آب و انرژي از هیئت‌های کشور ترکمنستان و کمپنی ترکی چالیک اظهار سپاسگزاری نموده و افزود که کشور ترکمنستان همواره نیت خوب نسبت به افغانستان داشته و نیز پالیسی خوبی در این راستا دارد.

آقای منصور در مورد همکاری‌های دوامدار در آینده میان دو کشور، اظهار امیدواری نموده و تقاضای عملی سازی پروژه‌های اقتصادی بیشتر در افغانستان از سوی کشور ترکمنستان را نمود.

سپس مراد آرتیکوف رئیس پروژه‌های جهانی ترکمنستان برای افغانستان و پاکستان از مهمان نوازی رهبری شرکت برشنا سپاسگزاری نموده و مذاکرات چند روز گذشته میان سه طرف را موثر و سازنده خواند.

همچنین در مورد پروژه تاپ(پروژه لین انتقالی برق ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان از طریق افغانستان به پاکستان) نیز بحث‌های همه جانبه صورت گرفت.

در ادامه از سوی رهبری د افغانستان برشنا شرکت و سرپرست وزیر آب و انرژی تاکید شد که کار لین ۵۰۰ کیلوولت شبرغان – دشت الوان باید هرچه زودتر تکمیل گردد تا بتوانیم برق را مطمین از ترکمنستان به کابل و سایر ولایات انتقال دهیم.

قابل ذکر است که این مذاکرات به روز دوشنبه هفته جاری آغاز و امروز پنجشنبه با امضای قرار داد توسعه سب استیشن نورالجهاد و امضای پروتوکول سه‌جانبه میان افغانستان، ترکمنستان و شرکت چالیک به پایان رسید.

# نخستین جلسه کمیته بررسی قراردادهای بزرگ پروژه های انکشافی در وزارت آب و انرژی برگزار گردید



در نخستین جلسه این کمیته که در وزارت آب و انرژی برگزار شد، محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی، فیصله بند چهارم مصوبه شماره هفدهم شورای کابینه امارت اسلامی افغانستان مبنی بر ایجاد این کمیته را به خوانش گرفته از کمیته متذکره خواست تا از همه اولتر طرزالعمل کاری خویش را تهیه نموده پس از آن مطابق طرزالعمل و میکانیزم مشخص روی بررسی قراردادهای بزرگ که قبلاً با شرکت های داخلی و خارجی به امضا رسیده است، کار نمایند.

آقای منصور به تسریع جریان کار کمیته تاکید نموده یادآورشد که کمیته موظف می باشد تا پس از بررسی و بازنگری دقیق تمام قراردادهای پروژه های بزرگ، گزارش نهایی خویش را به مقام ریاست الوزرا ارائه نمایند.

این کمیته براساس مصوبه کابینه امارت اسلامی افغانستان به منظور بررسی و بازنگری تمام قرارداد های بزرگ پروژه های انکشافی جهت ایجاد شفافیت و ارزیابی دقیق آنها ایجاد گردیده که درراس آن ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی بوده و اعضای کمیته متذکره را مسئولین تخنیکی وزارت آب و انرژی، اداره تدارکات ملی، وزارت انکشاف دهات، وزارت فواید عامه، وزارت اقتصاد و سایر ادارات ذیربط تشکیل می دهد.

# د انرژي معينيت اونېزه اداري او تخنيکي ناسته ترسره شوه



دا ناسته د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معين ښاغلي مولوي عارف الله "عارف" تر مشري لاندې د ياد معينيت رئيسانو په گډون سره ترسره شوه.

په دغه ناسته کې،گډونوالو د اداري او تخنيکي موضوعاتو په هکله بحث او د نظر تبادله وکړل.

د اوبو او انرژي وزارت د انرژي معين د ياد معينيت د رئيسانو او کارمندانو د فعاليتونو د راپور تر څېړلو وروسته، د اداري او تخنيکي اجراآتو د ښه والي لپاره لازم هدايات ورکړل.

# د کابل ولایت په بگرامي ولسوالۍ کې څه باندې ۱۵۰ کورنۍ له برېښنا څخه برخمنې شوې









د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير ښاغلي ملا عبداللطيف منصور د کابل ولايت د بگرامي ولسوالۍ په گوسفند دره سيمه کې د برېښنا يو برج پرانسيت او گټې اخيستنې ته يې و سپاره.

په دې مراسمو کې د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير ښاغلی ملا عبداللطيف منصور د افغانستان برېښنا شرکت د سوداگرۍ رئيس ښاغلی مولوي عبدالرحمن رحماني، د کابل برېښنا رئيس ښاغلی مولوي فضل الرحمن فضلي، د برېښنا د ودانۍ چارو سرپرست رئيس ښاغلی احمد خالد خرسند، ديني عالمانو او د سيمې يو شمېر مشرانو گډون کړی و.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزير د ټولو مشترکينو او په ځانگړې ډول د يادې سيمې اوسيدونکو څخه و غوښتل، چې د بيت المال د ساتنې او په ځانگړې ډول د برېښنا د تجهيزاتو په برخه کې هڅه و کړي او د برېښنا د غلا او ناوړه گټه اخيستنې څخه مخنيوی وکړي.

همداراز هغه د ديني عالمانو او دمسجدونو له ملا امامانو څخه و غوښتل، چې د برېښنا څخه د سمې گټې اخيستنې په هکله خلکو ته معلومات ور کړل.

# یک پروژه عام المنفعه به ارزش بیش از ۴۵ میلیون افغانی در ولسوالی بگرامی ولایت کابل افتتاح شد



افتتاح یک پروژه عام المنفعه به ارزش بیش از ۴۵ میلیون افغانی در ولسوالی بگرامی ولایت کابل این پروژه عام المنفعه توسط محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر معین آب وزارت آب وانرژی در ولسوالی بگرامی ولایت کابل افتتاح گردید.

این پروژه به همکاری مالی پروگرام غذایی جهان به منظور بازسازی شبکه های آبیاری، تقویت آبهای زیرزمینی و ایجاد اشتغال برای مردم در ولسوالی بگرامی راه اندازی شده است. محترم انجنیر مجیب الرحمن عمر معین آب وزارت آب وانرژی در هنگام افتتاح این پروژه از اهمیت آن در راستای مدیریت آب صحبت نموده افزود:"

با ایجاد امنیت سرتاسری در کشور اکنون مسئولین امارت اسلامی تلاش می نماید تا با صداقت و شفافیت کامل در راستای توسعه و بهبود اقتصاد کشور گام های مثبت و موثر را بردارند". آقای عمر در سخنان خویش از همکاری های سازمان غذایی جهان اظهار قدردانی نموده تاکید کرد که سعی و تلاش در راه انکشاف و آبادی کشور مسئولیت دینی و ملی هر شهروند افغانستان بوده و مسئولین امارت اسلامی افغانستان نیز در این راستا به انجام هرگونه کوشش و زحمت شبانه روزی متعهد می باشد.

قابل ذکر است که این پروژه در ۵ قسمت تطبیق می گردد که شامل اعمار ۶۰۰ متر جوی پخته در قریه پردل خان، اعمار ۲۰۰ متر دیوار گبیونی، اعمار ۱۵ متر دیوار استنادی، پاک کاری ساحه آبگیر چکدم به ظرفیت ذخیره ۱۹۴۰۰ متر مکعب و پاک کاری یک کانال به طول ۲ کیلومتر در قریه پردل خان می باشد. ارزش مجموعی این پروژه بیش از ۴۵ میلیون افغانی می باشد که از آن به تعداد ۷۵۰ نفر به صورت مستقیم و هزارها خانواده به صورت غیر مستقیم مستفید می شوند.

---

# د هریرود، پل پښتو او پل مالان په سیمو کې د غیر قانوني ودانیو د جوړولو د مخنیوي پروګرام شروع شو



د هریرود، پل پښتو او پل مالان په سیمو کې د تعمیراتي چارو جوړولو د مخنیوي پروګرام د هریرود سیندیزې حوزې رئیس او د هرات ولایت د عدلیې ریاست د مرستیال په شتون کې پیل شو.

د هریرود سیندیزې حوزې رئیس ښاغلي مولوي سردار ولي"مزمل" د دې پروګرام په پیل کې ټینګار وکړ، چې په یادو سیمو کې د جوړولو چارې ممنوع دي او د سر غړونکو سره به یې قانوني چلند کیږي.

# د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر د چین هېواد د Yellow River شرکت له استازي سره وکتل



د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د خپل کار په دفتر کې د چین هېواد د Yellow River شرکت له استازي سره وکتل او په هېواد کې د انرژي د پراختیایي پروژو په هکله یې د یاد شرکت د پانګونې په برخه کې بحث او د نظر تبادله وکړه.

په دغه لیدنه کې د یاد شرکت استازي د سولري برېښنا د پروژو د تطبیق او همدارنګه په افغانستان کې د اوبو سرچینو څخه د برېښنا د تولید په برخه کې خپله د پانګونې لیوالتیا څرګنده کړه.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور د یاد شرکت له لیوالتیا څخه د هرکلي په کولو سره یادونه وکړه، چې اوسمهال د امنیتي پلوه په ټول افغانستان کې د پانګونې زمینه چمتو شوي ده.

ښاغلي منصور زیاته کړه: "له نیکه مرغه په افغانستان کې د انرژي د تولید لپاره کافي سرچینې شتون لري او مونږ د افغانستان اسلامي امارت د اصولو او قوانینو مطابق په هېواد کې د انرژي د پراختیا په برخه کې د هر ډول پانګونې هرکلی کوو او په دې برخه کې د هر راز همکاري ډاډ ور کوو.

---

# سرپرست وزارت آب و انرژی وضعیت سکتور انرژی این وزارت را بررسی کرد



محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی در یک جلسه در حالیکه مولوی عارف الله عارف معین انرژی و شماری دیگر از مسئولین بخش انرژی وزارت نیز حضور داشتند، وضعیت سکتور انرژی را مورد بررسی و مطالعه قراردادند.

در این جلسه روسای بخش انرژی وزارت، گزارش وضعیت پیشرفت پروژه ها و مسوده پلان سال مالی۱۴۰۱ خویش را با مقام رهبری وزارت شریک نمودند.

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب وانرژی گزارش فعالیت های مسئولان و وضعیت پروژه های سکتور انرژی را مورد بررسی قرارداده هدایات لازم را به مسئولین مربوطه ارائه کرد.

---

# په اوبو او انرژي وزارت کې د ډیجیټل جوړونې په برخه کې یو بل ګام



د اوبو او انرژي په وزارت کې د کارمندانو لپاره د ډیجیټلي سیستم څخه په ګټه اخستنه د مکاتبو لیږل، ترلاسه کولو او اجراآتو په برخه کې روزنیز پروګرام ترسره شو.

په دې پروګرام کې د دې وزارت نږدې دیرش تنه کارمندانو په انلاین بڼه د مکاتبو د مدیریت او اجراآتو استفاده زده کړه.دا سیستم چې (Maktoob Send/Receive Tracking System)په نامه یادیږي د اوبو او انرژي وزارت د اداري خدماتو ریاست د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت لخوا د مدیریتي چارو په برخه کې د روڼتیا، چټکتیا او آسانتیا په موخه رامنځ ته شوی

همدا شان دا سیستم د داسې ښېګڼو لرونکی دی چې د هغې له لارې د مکاتبو د اجراآتو څارنه په اسانۍ سره ترسره کیږي او د مکاتبو د ارشیف قابلیت هم لري.

# دیدار سرپرست وزارت آب و انرژی با بزرگان ولسوالی چک میدان وردگ

محترم ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی در دفتر کار خویش با شماری از بزرگان ولسوالی چک ولایت میدان وردگ دیدار کرد.

در این دیدار بزرگان ولسوالی متذکره مشکلات شان در بخش های دسترسی مردم به آب و انرژی برق را با سرپرست وزارت شریک نموده خواستار توجه بیشتر مقام رهبری وزارت آب و انرژی شدند.

آقای منصور سرپرست وزارت آب وانرژی به بزرگان ولسوالی چک ولایت میدان وردگ اطمینان داد که به مشکلات مردم آن ولسوالی در قسمت تطبیق پروژه های برق رسانی و مدیریت آب رسیدگی خواهد شد.



# د هېواد د انرژي سکتور د ښه مدیریت او پراختیا په موخه د همغږي ناسته ترسره شوه

دا ناسته د اوبو او انرژي وزارت د سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور، د وزارت د انرژي معین ښاغلي مولوي عارف الله عارف، د افغانستان برېښنا شرکت عمومي رئیس ښاغلي ملا محمد عیسی آخند او د یو شمېر رئیسانو او تخنیکي مسؤلینو په ګډون سره ترسره شوه.

په دغه ناسته کې د انرژي د پروژو د تولید، پراختیا او لېږد وضعیت د څېړنې او مطالعې لاندې ونیول شو؛ او د هېواد د انرژي سکتور د پروژو د ښه مدیریت او پلي کیدو په موخه د همکاري ګډې طرحې باندې بحث او د نظر تبادله وشوه.

په ورته وخت کې، د انرژي وزارت د انرژي معین ښاغلي مولوي عارف الله عارف په دغه ناسته کې، د هېواد د انرژي سکتور د پراختیا او ښه مدیریت لپاره د چاراوکو همکاري او همغږي اړینه وبلله.

د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور په دغه ناسته کې پر لا همغږي باندې ټینګار وکړ؛ او د هېواد د انرژي سکتور د مدیریت د ښه والي او لارو چارو د



وړاندې کولو ترڅنګ، د انرژي معینیت او برېښنا شرکت د چاراواکو څخه وغوښتل، چې یوه ګډه کمېټه رامنځته او د چارو د انسجام او تطبیق لپاره کار و کړي.

همدارنګه د افغانستان برېښنا شرکت عمومي رئیس ښاغلي ملا محمد عیسی آخند د هېواد د انرژي سکتور په برخه کې د ګډې همکارۍ د طرحې څخه هرکلی و کړ او د هغې پر عملي کولو باندې یې ټینګار وکړ.

د یادولو وړ ده، چې د انرژي خدمتونو د تنظیم اداره او د افغانستان برېښنا شرکت چې تر دې مخکې په خپلواک ډول فعالیت درلود، اوس د اوبو او انرژي وزارت او د انرژي معینیت تر چتر لاندې فعالیت کوي.

# کندز ولایت کې د خوراک په مقابل کې د کار ملي پروګرام په اړوند ناسته ترسره شوه



د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزرا د هدایت په اساس دا ناسته د کندز ولایت د والي تر مشري لاندې د یاد ولایت د مرستیال، ولسوالانو، د کانالونو میرابانو او د خوراک په مقابل کې د کار ملي پروګرام د رهبري پلاوي د کمېټې غړو په ګډون کې د ولایت د مقام په تالار کې جوړه شوه .

په دغه ناسته کې د اوبو د اهمیت او د کثافاتو او رسوباتو څخه د کانالونو پاکونې په اړه خبرې وشوې او ټولو میرابانو ته هدایت ورکړل شو، چې په دغه پروګرام کې د پنج آمو سینديزې عمومي حوزې ریاست او د ولسوالیو د ساحوي مدیرانو سره په همغږۍ سره فعاله ونډه واخلي، ترڅو دغه پروګرام په سمه او درسته توګه د نیمګړتیا پرته په ساحه کې پلی شي او بزګران د کانالونو د پاکونې او خپلو کښتونو ته د اوبو رسولو له ستونزې څخه خلاص شي.

---

# انجام سروی ابتدایی بندهای ذخیروی آب ، کانال‌ها و چکدم ها در ولایت زابل



تیم تخنیکی حوزه فرعی دریایی ترنک قلات ولایت زابل سروی ابتدایی دو بند آب را در ولسوالی دای چوپان و سروی یک چکدم و یک بند ذخیروی آب را در ولسوالی ارغنداب این ولایت انجام دادند.

این تیم تخنیکی به اساس هدایت محترم ملا عبدالکریم"ذوالفقار"، رئیس حوزه فرعی دریایی ولایت زابل در ولسوالی دای چوپان این ولایت سروی ابتدایی بند ذخیروی آب قریه اجه و بند منگوس را انجام داده و همچنین در ولسوالی ارغنداب این ولایت سروی چکدم گورغان و بند ذخیروی آب بایزیدخیل را نیز به پایان رساندند.

قابل یاد آوری است که با آمدن امارت اسلامی امید مردم برای انجام پروژه‌های انکشافی در ولایت‌ها بیشتر گردیده است.

# د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معين د دې وزارت د لاسته راوړنو او فعاليتونو په اړه خبري کنفرانس وړاندې کړ



په دې خبري کنفرانس کې د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژي وزارت د اوبو معين ښاغلي انجنير مجيب الرحمن عمر وويل چې د دې وزارت رهبري په خپل ټول توان سره د اوبو د مديريت او مهار ولو په لټه کې ده.

ښاغلي عمر  د اسلامي امارت د رسنيو او اطلاعاتو مرکز کې دېته په اشارې سره چې په اوس وخت کې د هېواد ۷۰ سلنه اوبه ضايع کيږي. چې د اوبو د مهار په صورت کې به افغانستان د زراعت او د برېښنا توليد صنعت په برخه کې په ځان بساينې ته ورسيږي، هغه زياته کړه، چې د اوبو د چارو د بهتره مديريت په موخه د هېواد اوبيزې حوزې په پنځه سينديزو حوزو تقسيم کړی دي، او د ۱۴۰۱ مالي کال د پراختيايي بوديجې په نظر کې نيولو سره مشخص پروگرامونه په نظر کې لري، د اوبو چارو ښاغلي معين وويل چې په دې وروستيو کې د دې وزارت رهبري د هېواد د بندونو څخه د ليدني او وضيعت د بررسی په موخه سفرونه لرل چې په نتيجه کې به يې ډېر ژر د کمال خان او شاه و عروس بندونو پاتې کارونه بشپړ شي.

ښاغلي عمر په ټول هېواد او په خاص ډول کابل ښار کې د ځمکې لاندې اوبو څخه استفاده بې رحمانه وبلله او د پايتخت له اوسېدونکو څخه يې غوښتنه وکړه چې د ځمکې لاندې اوبو څخه سالمه استفاده وکړي. هغه ډاډ ورکړ، چې په کابل ښار کې د اوبو رسونې او د ځمکې لاندې اوبو تقويه کولو په موخه د پنجشير سيند او يا د شاه او عروس بند څخه د يو کانال د جوړولو په لټه کې دي.

په همدې حال کې د دې وزارت وياند مولوی اخترمحمدنصرت وويل چې د دې وزارت د عوايدو اندازه د تير حکومت په پرتله څو چنده زياته شوې ده.

# دیدار سرپرست وزارت آب و انرژی با رئیس موسسه ادف کشور ترکیه



محترم ملا عبداللطیف"منصور" ، سرپرست وزارت آب و انرژی قبل از ظهر امروز در دفتر کارخویش با محترم توران محمد، رئیس موسسه ادف کشور ترکیه دیدار نموده و پیرامون ساخت بندهای آب و برق، چکدم ها، مدارس، مساجد و یتیم خانه‌ها در ولایت‌های مختلف کشور بحث و تبادل نظر نمودند.

در این دیدار، سرپرست وزارت آب و انرژی ضمن خوش آمدید به رئیس موسسه ادف کشور ترکیه پیرامون بندهای آب وبرق در کشور معلومات ارایه نموده و خواستار ساخت بندهای آب و برق ، چکدم ها ، مدارس، مساجد و یتیم‌خانه ها از سوی رئیس این موسسه در کشور گردیدند.

از سوی هم، رئیس موسسه ادف کشور ترکیه پیرامون سفرهای خویش به ولایت‌های مختلف کشور به منظور ساخت مساجد، مدارس و یتیم‌خانه‌ها نیز معلومات همه جانبه به محترم ملا عبداللطیف"منصور"، سرپرست وزارت آب و انرژی ارایه نموده و خواستار همکاری سرپرست وزارت آب وانرژی در این راستا گردیدند.

در همین حال، رئیس موسسه ادف کشور ترکیه ابراز علاقه‌مندی خویش را در مورد ساخت بندهای آب و برق، چکدم ها، مساجد، مدارس و یتیم‌خانه‌ها در کشور ابراز نمودند.

قابل یاد آوری است که در این اواخر علاقه‌مندی شرکت‌های داخلی و خارجی در مورد سرمایه‌گذاری بالای بندهای آب و برق در کشور بیشتر گردیده است.

---

# د اوبو او انرژي وزارت د IT رئیس معرفي شو



ښاغلی انجنیر جبیب الرحمن "جلالزی" نن د یو لړ رسمي مراسمو په ترڅ کې د اوبو اوانرژي وزارت د معلوماتي تکنالوژی د رئیس په حیث، د یاد ریاست کارمندانو ته ور وپېژندل شو.

په دغو مراسمو کې چې د یاد وزارت د مقام د دفتر رئیس ښاغلی قاري محمد عبدالعزیز"عزیز"، د مالي او اداري عمومي رئیس ښاغلی حاجی محمدالدین "نیازی"، د بشري سرچینو رئیس ښاغلی اسدالله "کاکړ"، د مطبوعاتو او نشراتو رئیس ښاغلی غلام جیلانی "حق پرست" او یو شمېر نورو رئیسانو او د وزارت کارمندانو ګډون در لود؛ ښاغلی انجنیر حبیب الرحمن "جلالزی" د معلوماتي تکنالوژی د رئیس په حیث د خپلې اداري کارمندانو ته ور وپېژندل شو.

په دغو مراسمو کې د وزارت مقام د دفتر رئیس ښاغلی قاري محمد عبدالعزیز"عزیز"، د وزارت د مالي او اداري عمومي رئیس ښاغلی حاجي محمدالدین "نیازي"، لنډې خبرې وکړې، نوې رئیس او کارمندانو ته یې د خدای(ج) له درباره څخه د ښه خدمت غوښتنه وکړه.

یاده دې وي، چې ښاغلی انجنیر حبیب الرحمن "جلالزی" د تجارت په برخه کې د لیسانس تر کچې زده کړې په مصر کې او د معلوماتي تکنالوژی په برخه کې یې د ماستری تر کچې زده کړې په پاکستان کې سرته رسولې دي او همدارنګه د تېر رژیم د واکمني په وخت کې ۷ کاله په بګرام کې په اسارت کې تېر کړي دي.

# د ننگرهار ولایت د کامې پله د هایدرومیتیولوژي کیبلوي استیشن د اوبو د جریان اندازه معلومه شوه




د اوبو او انرژي وزارت د کابل سیندیزې حوزې عمومي او د اوبو زیرمو عمومي ریاستونو گډ تخنیکي ټیم ننگرهار ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې د کامې پله دهایدرومیتیولوژي کیبلوي استیشن د اوبو جریان معلوم کړ او د یاد استیشن د اړتیا وړ وسایل چې ترمیم او بیارغونې ته اړتیا لرل، و څېړل.

د اوبو او انرژي وزارت دا تخنیکي ټیم ننگرهار ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې د کامې پله د هایدرو میتیولوژي کیبلوي استیشن د اوبو د جریان د معلومولو ترڅنگ، د اړوند ریاستونو نوې گمارل شویو انجنیرانو ته د اوبو د جریان اندازه گیري، د ارقامو را ټولولو او سنسرونو د څرنگوالي د فعالیت ډول په نظري او عملي بڼه وښودل شو.

# به منظور جمع آوری ارقام استیشن هایدرومیتیولوژی سلطانپور ولایت ننگرهار بازدید صورت گرفت



تیم مشترک ریاست‌های حوزه عمومی دریایی کابل و منابع آب وزارت آب و انرژی از استیشن هایدرومیتیولوژی ولایت ننگرهار بازدید نمودند.

این تیم تخنیکی وزارت آب و انرژی طی سفر خویش ارقام استیشن هایدرومیتیولوژی سلطانپور ولایت ننگرهار را جمع آوری نموده و به مسئولین ذیربط به منظور حفظ و مراقبت از آن هدایات لازم تخنیکی را دادند

# بیلي کانال د روانو چاروڅخه څارنه ترسره شوه




د لغمان سیندیزې فرعي حوزې نظارتي ټیم له لوري د لغمان مرکز اړوند د بیلي کانال ,سربند او محافظوي دیوال پروژې د روانو چارو څخه څارنه ترسره شوه.

د پروژې تطبیق کونکي موسسې ته دکار د کیفیت په هکله لازم هدایات ورکړل شوه، تر څو کارونه پخپل وخت او غوښتل شوی کیفیت باندې تر سره شي.

د یادولو وړ ده، چې د دې پروژې چارې د WFP ادارې په مالي مرستې سره پرمخ وړل کېږي.

# د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر سره ځانگړې مرکه


د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف "منصور "

## بسم الله الرحمن الرحیم

**د اوبه او انرژي مجلې درنو لوستونکو**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**لکه څرنگه چې ټول پوهیږئ اوبه او انرژي د هیواد په پراختیا، وده او پرمختگ کې دوه اړین سکتورونه دي، په اوسني شرایطو کې د اقلیمي بدلونونو او پرله پسې وچکالیو سره په افغانستان کې د اوبو د مدیریت اهمیت څو برابره شوی دی، او له بلې خوا د هیواد اقتصادي ودې او پرمختگ په لاره کې د انرژي بنسټیز اهمیت ته په کتو سره، ستاسو هر یوه په ذهن کې دا پوښتنه را ولاړیږي، چې د اوبو او انرژي سکتورونو مسؤلین د همدې دوو حیاتي سکتورونو د ښه والي لپاره کوم پروگرامونه او کړنې لري.**

**د دغو پوښتنو د ځواب موندلو لپاره ستاسو پام را اړوو د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف "منصور " سره زمونږ ځانگړې مرکې ته.**

**سوال:** د اسلامي امارت له پیل څخه تر دې مهاله د دې وزارت د کړنو په اړه عمده معلومات راکړې؟

**ځواب:** ستاسو د پوښتنې په ځواب کې دومره باید ووایم کله چې په افغانستان کې اسلامي امارت له فتحې وروسته دلته راغی ډیر غټ تحولات راغلل او د اسلامي امارت د مشرتابه د لزوم دید په اساس په دې وزارت کې زمونږ گمارنه وشوه. مونږ په دې وزارت کې د ټولو پروژو که هغه د اوبو او یا انرژي په برخه کې وي له سره ارزونه وکړه او د هغو ټولو معلومات چې دا پروژې څومره تکمیل شوي او څومره پاتې دي په هغه مونږ کار وکړ چې د هغې په اساس مونږ عملآ کار شروع کړ. اوس په دې کار کوو چې څنگه دغه پروژې تکمیل شي.

**سوال:** د اوبو او انرژي وزارت رهبري مقام د انرژي پراختیا او د انرژي تولید په برخه کې د هیواد ځان بسایني لپاره کوم پلانونه په لاره اچولي دي؟

**ځواب:** د انرژي په برخه کې دلته ډیرې زیاتې کمپنۍ راغلي چې د هغې له جملې څه خارجي او بعضې داخلي او یو شمیر کورنې پانگه اچوونکو هم د افغانستان له معدنیاتو څخه د انرژي تولید په برخه کې غوښتنه کړې ده، لکه د ډېرو سکرو څخه مونږ استفاده کولی شو چې مونږ له هغې انرژي تولید کړو. په دې اړه مو زیاتې متعددې ناستې کړې؛ او مونږ له ډېر شمېر تجارانو سره نتیجې ته رسېدلي یو الله ج مهربانه دی ان‌شاءالله په آینده وخت کې به په تفاهم د نورو وزارتونو لکه معادن او صناعیو وزارت چې دغه موضوعات په اقتصادي کمیسیون کې هم تر بحث لاندې دي، مونږ پر دې غور کوو چې څرنگه مونږ وکولی شو د انرژي په برخه کې لاسته راوړنې ولرو. چې په هغې سره افغانستان په ځان بسیا شي او مونږ بل هیواد ته د برق او انرژي په برخه کې محتاج ونه اوسو. او مونږ له خپلو منابعو څخه استفاده وکړو. مونږ په دې اړه پلانونه جوړ کړي چې هغه به په آینده کې عملي شي او نتایج به یې مونږ او تاسو وگورو.

**سوال:** څرنگه چې تاسو ته معلومه ده، چې د ځمکې لاندې اوبو سرچینې د هیواد په اکثرو ښارونو او په ځانگړې ډول د کابل په ښار کې د کمښت سره مخامخ دي. د اوبو او انرژي وزارت د هغې د مدیریت لپاره کوم پروگرامونه په لاس کې لري؟

**ځواب:** لکه څرنگه چې تاسو ته هم معلومه ده چې د تیرو څو کلونو راپدې خوا په افغانستان کې وچکالي وه، او دا یو ښکاره واقعیت دی چې د دې وچکالیو په نتیجه کې د اوبو سطحه ډیره ټیټه شوې ده، لله الحمد مونږ اوس وینو چې په افغانستان کې واورې او بارانونه وشو او لا کیږي، هغه تشویش اوس نشته او د اوبو سطحه اوس ډیره لوړه شوې ده، خو بیا هم چې مونږ په آینده کې له دې مشکل سره مخ نشو زمونږ د اوبو معینیت

په دې اړه جدي برنامې تر غور لاندې نیولې دي او په عین حال کې مونږ غواړو هغه اوبه چې هسې بهیږي د هغې لپاره مونږ یو پروگرام د کابل په استالیف، شکردره او گلدرې ولسوالیو کې شروع کړو.

په نور ولسوالیو کې هم همدا تصمیم په نظر کې لرو، چې په یو شمېر ولسوالیو کې چې مونږ د واورو او بارانونو د اوبو ذخیره کولو په موخه وړې وړې کندې ویستلې ترڅو اوبه په هغوکې ذخیره شي، چې د اوبو د ذخیره کولو لپاره دا یو تجربه شوې کړنه ده. چې د لته بې ډیره ښه نتیجه ورکړې ده ، او په آینده کې به زمونږ ستونزې ورسره رفع شي، چې دا زمونږ موقتي او ډېرې کمې لاسته راوړنې دي. د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې په لویو بندونو باندې کار وکړي او هلته زیاتې اوبه ذخیره شي، او د اوبو د کمښت ستونزه بیا مخې ته رانشي،

**سوال:** څرنگه چې په جریان کې یاست چې د سیاسي تحولاتو په راتلو سره د دې وزارت د کار لاندې پروژې د تعلیق په حالت کې واقع شوې دي، تر اوسه پورې کومې پروژې د تعلیق له حالت څخه راوتلې چې کارونه به یې ډیر ژر شروع شي؟

**ځواب:** لکه چې تاسو ته بهتره معلومه ده هغه پروژې چې ډیرې لویې او عام المنفعه پروژې وې هغه په دې تحولاتو کې له تعلیق سره مخ شوې، خو مونږ وکولی شول د هغو کارونه مخکې یوسو لکه په کابل کې د شاه و عروس بند پروژه چې کار یې عملاً شروع شوی دی، کمال خان بند چې یوه لویه کرنیزه پروژه ده ،همدا شان د کجکی بند چې په دې تولو لویو پروژو کار عملي شروع شوی دی چې دا هغه لویې پروژې دې چې کارونه یې له ۹۵٪ ډیر بشپړ شوي دي، دا چې کارونه نیم گړي پاتې نشي نو د اسلامي امارت مشرتابه لخوا زمونږ پیشنهادونو ته مثبت ځواب ورکړ شوی او دې وزارت ته یې بودیجه ورکړې او کارونه یې شروع دي ، چې د راتلوونکې کال په بودیجه کې د ټولو پروژو د بیا شروع کیدو لپاره بودیجه په نظر کې نیول شوې او ټولې پروژې به بیا شروع شي،

**سوال:** د انرژي تولید او اوبو مدیریت په برخه کې د خصوصي سکتور برخې اخستنې په اړه ستاسو نظر څه دی، او کوم پروگرامونه ورته په نظر کې لرئ؟

**ځواب:** د دې لپاره مونږ هم د انرژي او هم مو د اوبو معینیت ته هدایت کړی، چې تاسو د ۱۴۰۱ کال لپاره هغه پلانونه او پروگرامونه په نظر کې ونیسئ چې هغه هم عملي کیدای شي او هم ډیره گټه ولري، چې په دې اړه زمونږ فنی او مسلکي مسؤلین کار کوي او د راتلونکي کال لپاره پلانونه جوړوي. چې د هغه پلانونو مطابق به زمونږ ډیرې ستونزې حل شي .

**سوال:** د اوبو او انرژي وزارت په مخکې کومې مهمې ستونزې او خنډونه پراته دي، او هغو ته د حل کومې لارې په نظر کې لرئ؟

**ځواب:** دا واقعیت هم دی، چې په دې تیرو شپږو میاشتو کې مونږ له یو شمیر ستونزو سره مخ یو هغه که په اداري برخه کې وي او هغه دا چې دا وزارت په درې ټوټو باندې ویشل شوی وو لکه د اوبو، انرژۍ او برېښنا شرکت باندې ویشل شوی و مونږ وکولی شول چې دا وزارت متحد کړو او واحد یې کړو په هغه کې مونږ زیات کار وکړ اوس لله الحمد دا ستونزې حل شوی او که کومه ستونزه وي هغه به هم حل شي یو مشکل همدا وو، بل مشکل داوو چې زمونږ په وزارت کې چې کومې حیاتي پروژې وې د هغې بودیجه د سابقه اداري لخوا ایستل شوې وه، بله دا چې تاسو ته معلومه ده، چې مونږ په نړیواله کچه بعضې قراردادونه د برېښنا په اړه له تاجکستان ازبکستان ترکمنستان او ایران هیوادونو سره در لودل او د نړیوال بانک لخوا زمونږ په بانک بعضې تعذیرات لرل چې د هغې په اساس مونږ نشو کولی د هغه هېوادونو پورونه ادا کوو مونږ د هغه هېوادونو سره متعددې ناستې وکړې او هغوی ته مو قناعت ورکړ چې ستاسو پورونه آدا کړو. له یادو هیوادونو مننه کو چې زمونږ خبره یې ومنله او برق یې قطع نه کړ. او مونږ آهسته آهسته د هغو یو څه قرضونه ادا کړل. ان‌شاءالله دا ستونزې اوس یو څه حل شوي دی،

**سوال:** د افغانستان ولس ته څه پیغام لرئ؟

**ځواب:** د افغانستان غیرتي ملت ته زمونږ پیغام دادی چې افغانستان د ټولو پرگنو او قومونو شریک او یو کور دی، مونږ او تاسو کولی شو، چې څومره ستونزې که سیاسي، اقتصادي دي او که داخلي څه مشکلات وي هغه مونږ په هغه صورت کې حل کولی شو چې مونږ ټول قومونه یو بل ته لاسونه سره ورکړو، او خپل منځ کې مو اتفاق او اتحاد وي، د دې اتفاق او اتحاد سره افغانانو وکولی شول چې درې امپراتورۍ انگریزانو، روسانو، امریکایانو او ناټو ته شکست ورکړ، کله چې وحدت موجود وي بیا مونږ په دغه مشکلاتو کامیابي راوړلی شو.همدا راز د هېوادوالو او وطن والو مو دا غوښتنه ده، چې دوی دې زمونږ سره همکار اوسیږي، مثلاً تاسو مخکې ورته اشاره وکړه زمونږ وزارت دوه بخشونه دي یو د اوبو او بل د انرژي چې دواړه الهي نعمت دی چې دې دواړو سره ډیر احتیاط وشي، چې دا د دې ملت امانت او بیت المال دی که اوبه دي او یا انرژي باید ضایع نشي، او ډیر احتیاط ورسره وشي، الله ج دې وکړي چې دوی په دې برخه کې زمونږ سره همکار شي او زمونږ ملاتړ وکړي کله چې حکومت او رعیت سره یو شي بیا ډیرې ستونزې حل کیدای شی.

د اوبو او انرژي فصلنامه
لسم کال اوه لسمه گڼه، د ۱۴۰۰هـ ش مالي کال څلورمه ربع چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري

# موجودیت و وضعیت منابع آب در افغانستان



نویسنده: انجنیر فایزالرحمن عزیزی رئیس عمومی منابع آب

افغانستان کشور محصور به خشکه است، سلسله مرتفع کوهستانی در ساحات مرکزی و شمال شرقی افغانستان بیشتر از ۴۰۰۰۰۰ کیلومتر مربع یعنی دو برسوم مساحت کشور گسترش یافته و بلندترین ارتفاع افغانستان در کوه نوشاخ به ۷۵۰۰ متر از سطح بحر میرسد ،مشخصات پیچیده توپوگرافیکی شرایط اقلیمی مختلف را در افغانستان ایجاد کرده است.

سلسله هندوکش بیشترین میزان بارندگی را دریافت می کند و منحیث ذخیره گاه یا به اصطلاح دیگر تامین کننده عمده آبی در کشور عمل مینمایند ، دره واخان به شکل دهلیز بزرگ کوهستانی بطرف شرق گسترش یافته محیط مرتفع و پوشیده ازبرف و یخچالی را معرفی میکند، ارتفاعات مرکزی توسط علفچرهای طبیعی پوشانیده شده ، در شمال کوه های هندوکش ساحه وسیع و حاصلخیز واقع شده و دشت های فراخ و ریگستانی درسمت جنوب غربی کشور که دارای اقلیم بسیار خشک می باشد موقعیت دارد.

بصورت عموم شرایط اقلیمی غالب در افغانستان دارای تابستان گرم و زمستان سرد میباشد.(منبع: اطلس هوا، اقلیم و منابع آب ) بیشتر منابع آبی افغانستان از کوه های هندوکش و پامیر سرچشمه می گیرد، این سلسله کوه ها منابع آب دریاهای عمده کشور را تأمین مینمایند .منابع آبی در شرق کشور از طریق حوزه دریایی کابل جریان نموده به دریای سند و سر انجام به اقیانوس هند میریزد، کوه های پامیر وهندوکش آب حوزه دریایی پنج ، کوکچه و متعاقباً آمو را تأمین می کند،آب حوزه دریایی هریرود –مرغاب از غرب کوه هندوکش تشکیل شده و به ترکمنستان می ریزد ومنبع آب حوزه دریایی هلمند از جنوب غربی سلسله کوه هندوکش تشکیل شده سرانجام به حوزه سیستان سرازیر میگردد

( شکل ۱).

قابل ذکر است اینکه ذوب شدن برف ها و یخچال ها منابع عمده آبهای سطحی بزرگترین دریاهای کشور یعنی پنج آمو و کابل را تامین نموده در تغذیه آب های زیرزمینی نیز اهمیت ویژه دارد و باران ها در پایان زمستان همزمان با ذوب شدن برف ها سبب افزایش مقدار جریان دریا ها در کشور میگردد.



**شکل ۱: منبع و تشکیل منابع آب در افغانستان** (اطلس هوا، اقلیم و منابع آب ۲۰۲۱)

نتایج مطالعه شاخص های هایدرومتیورولوژیکی در ساحات مرتفع و برفگیر-کمر بند کوهستانی نشان میدهد که در نزدیک

به ۲۷ درصد مساحت کلی کشور شامل ساحات مرتفع، با ارتفاع بیشتر از ۲۵۰۰ متر واقع گردیده بطور طبیعی ۸۰ فیصد ذخایر آب کشور را تشکیل و تأمین مینمایند .

از مجموع آب تولیدی ساحات مرتفع-کمربند کوهستانی در حدود53 فیصد آن در حوزه دریایی پنج آمو ۲۸ فیصد در حوزه های دریایی کابل ۱۲ فیصد در حوزه دریایی هلمند ٤ فیصد در حوزه هریرود-مرغاب و ۳ فیصد در حوزه دریایی شمال سرازیر میگردد.

پنج حوزه دریایی کشور با درنظر داشت مرز های طبیعی( هایدورولوژیک )به۳۵حوزه فرعی تقسیم گردیده اند و ادارات حوزه های فرعی دریایی به اساس قانون آب به منظور مدیریت و تنظیم همه جانبه منابع آب حوزه های دریایی با درنظرداشت اصول پذیرفته شده جهانی ( IWRM) ایجاد گردیده اند ( شکل ۲).




شکل ۲ :نقشه ۵ حوزه عمومی و ۳۵ حوزه های فرعی دریایی کشور جهت مدیریت منابع آب

ظرفیت( پوتنشیل مجموعی ) منابع آب ( آبهای سطحی و زیرزمینی ) در پنج حوزه دریایی کشور با استفاده از ارقام ساحوی شبکه ملی استیشن های نظارتی هایدرولوژیکی و هایدروجولوجیکی در حدود ٦٩ میلیارد متر مکعب تخمین گردیده که از جمله ۵۳ میلیارد متر مکعب آنرا آبهای سطحی و متباقی ١٦ میلیارد متر مکعب آنرا آبهای زیرزمینی تشکیل میدهد . به همین ترتیب ارزیابی منابع آبی در پنج حوزه دریایی کشور در دو مقطع زمانی بین سالهای (١٩٤٨-١٩٨٠) و (٢٠٠٨-٢٠٢٠) نشان میدهد که در مجموع از لحاظ حجمی تقریبا ٦ میلیارد متر مکعب معادل ٨ فیصد منابع آبی کاهش یافته است ( شکل ٣).




شکل ۳: مقایسه پوتانشیل منابع آبهای سطحی و زیر زمینی در ۵ حوزه دریایی کشور به میلیارد متر مکعب در دو دوره زمانی بین سالهای ١٩٤٨-١٩٨٠ و ٢٠٠٨-٢٠٢٠

کاهش سرسام آور ظرفیت منابع آبی در مدت چهار دهه نشان دهنده اثرات فاجعه بار تغییر اقلیم و انکشاف فعالیت های بشری، رشد سریع نفوس و افزایش تقاضا برای سکتور های مختلف کشور مثل : زراعت، تولید برق، آبیاری، صنعت، مالداری وآشامیدن محسوب میگردد.

از مجموع ٦٩ میلیارد متر مکعب ظرفیت موجود و قابل دسترس منابع آب کشور حدود ٣٣ فیصد آن ( ٢٣ میلیارد متر مکعب ) در سکتور های مختلف کشور مورد استفاده قرار گرفته و متباقی67فیصد معادل 46 میلیارد متر مکعب آب قابل دسترس جهت برنامه ریزی های اقتصادی موجود است بناً بادرنظر داشت پوتنشیل عظیم آب قابل دسترس در افغانستان نیاز مبرم برای برنامه ریزی و انکشاف همه جانبه منابع آب جهت توسعه اقتصادی و اجتماعی می باشد .

د اوبو او انرژي فصلنامه
لسم کال اوه لسمه گڼه، د ۱۴۰۰هـ ش مالي کال ځلورمه ربع چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري

# سیلاب و خشکسالی و بررسی چالش ها و پیامد های آن در کشور



نویسنده: انجنیر میرویس "میرزاد"

**معرفی سیلاب و خشکسالی**

**سیلاب:** عبارت از جریان آب است که از بستر طبیعی مجرای آبی لبریز شده و به اراضی مجاور سرازیر می گردد.

**خشکسالی:** خشکسالی عبارت از کمبود بارندگی در دوره طولانی، به نحوی که باعث کمبود رطوبت در خاک، کاهش آب های جاری، مختل شدن روند طبیعی فعالیت های انسانی، حیوانی و حیات گیاهی گردد.

**بررسی چالش ها و پیامد های سیلاب و خشکسالی در کشور**

چالش های موجود در عرصه مدیریت سیلاب، خشکسالی و خطرات ناشی از وقوع آن در ۵ حوزه دریایی کشور برخاسته از عوامل ذیل اند:

**۱. عوامل انسانی:**

به اقدامات، تصامیم و فعالیت های انسانی در زونهای سیلابی و سایر مناطق گفته می شود که باعث تشدید سیلاب و خشکسالی میگردد، از این رو عوامل متذکره در مدیریت سیلاب وخشکسالی در دو سطح (حوزه آبریزه و شهر) ذیلاً مورد بررسی قرار گرفته است:

**۱,۱. ساحات شهری:**

- توسعه و انکشاف مناطق شهری.
- پوشش مصنوعی سطح زمین.
- نبود سیستم های جمع آوری آب باران و برف.
- غیر معیاری بودن سیستم کانالیزاسیون.
- عدم شناسایی زون های سیلابی ساحات شهری.
- انداختن کثافات و پلاستیک در مجراهای آبی.
- غصب حریم و بستر مجراهای آبی.
- کمبود مجرا های کمکی رد سیلاب.

**۱,۲. ساحات حوزه آبریز:**

۱,۱,۲. عدم لایروبی مجراهای مسدود شده آبی.

۱,۱,۳. قطع جنگلات، کاهش و تخریب فرش نباتی.

۱,۱,۴. کمبود زیربناهای ذخیروی، کنترولی، تاخیری و انتقالی آب.

۱,۱,۵. ظرفیت پایین بندها به علل ترسب مواد رسوبی در کاسه ذخیره آن.

۱,۱,٦. دخالت در بستر و مجراهای آبی.

۱,۱,۷. شرایط فزیکی حوزه های دریائی (تغییرات مجرای سیلابی).

۱,۱,۸. برداشت بی رویه مواد ساختمانی از حریم و بستر دریاها.

۱,۱,۹. مدیریت ناکافی آبریزه ها.

**۱,۳. نهادی (شهر و آبریز):**

- تطبیق ضعیف قوانین.
- کمبود تشکیلاتی.
- توسعه ناکافی مدل سازی دریا ها.
- کمبود میکانیزم های موثر اقتصادی برای بهبود مدیریت سیلاب و کاهش خطرات ناشی از آن.
- کمبود استیشن های هایدرولوژیکی و متیورولوژیکی.
- تشخیص ناکافی زونهای سیلابی در حوزه آبریز.
- توجه ناکافی روی تحکیم سواحل دریا ها.
- توسعه ناکافی پلانهای اجرائیوی جهت مدیریت همه جانبه سیلاب و خشکسالی.
- کمبود سیستم معلومات پیشگویی و هشداردهی از وقوع سیلاب و خشکسالی.
- هماهنگی ضعیف و ناپایدار بین ادارات ذیدخل.
- کمبود منابع، ظرفیت ها و آگاهی دهی.
- سهمگیری ضعیف ادارات و رسانه ها در قسمت اطلاع رسانی از وقوع سیلاب و تاثیرات منفی خشکسالی.

**۲. عوامل طبیعی:**

۲,۱. شرایط نامناسب طبیعی (توپوگرافی مغلق و پیچیده).

۲,۲. خصوصیات فزیکی حوزه های دریایی (شکل، پوشش گیاهی، هایدرولوژیکی، جیولوجیکی....).

۲,۳. نفوذ پذیری کم حوزه آبریز نسبت میلان زیاد.

۲,٤. ذوب شدن برف و یخچال.

۲,۵. مسدود شدن دریاها به علت ریزش سنگریزه ها (Sliding).

۲,٦. اثرات بالقوه تغییرات و نوسانات اقلیمی که به شدت و دوام سیلاب و خشکسالی می افزاید.

۲,۷. بارانهای شاوری.

**پیامد های سیلاب:**

وقوع سیلاب ها در پنج حوزه دریایی باعث پیامد های اجتماعی، اقتصادی و محیط زیستی ذیل میگردد:

۱. تلفات جانی و خسارات مالی و شیوع امراض.
۲. مهاجرت و بیجا شدن اهالی مناطق زون های سیلابی.
۳. ملوث شدن منابع آبهای سطحی و زیرزمینی.
٤. فرسایش خاک، تخریب سواحل دریا و آلات اندازگیری هایدرولوژیکی.
۵. تخریب ساحات مسکونی، زراعتی و محیط زیستی.
٦. تخریب تاسیسات آب و بندش مجراهای آبی.
۷. تخریب و بندش راه های مواصلاتی، پل، پلچک، سرک و سایر تاسیسات عام المنفعه.
۸. رسوب گذاری در کانالها و کاسه بند های ذخیروی.
۹. شستشوی مواد مفیده خاک و از بین رفتن فرش نباتی.
۱۰. به مخاطره انداختن ایکوسیستم آبی، زراعتی و سیستم برق رسانی در شهرها و منازل مسکونی.
۱۱. از بین رفتن تالابها و ایجاد تالابها های جدید.

**پیامد های خشکسالی**

وقوع خشکسالی در پنج حوزه دریایی باعث پیامد های اجتماعی، اقتصادی و محیط زیستی ذیل میگردد:

۱. تلفات و خسارات جانی و مالی، وقوع آتش سوزی در جنگلات.
۲. کاهش آبهای سطحی، زیرزمینی و بروز منازعات ناشی از کمبود آب.
۳. در معرض خطر قرار گرفتن ایکوسیستم.
٤. کاهش محصولات زراعتی، کم شدن کیفیت غله جات، بروز آفات و حشرات.
۵. کاهش درآمد مالیاتی دولت، افزایش قیمت مواد اولیه در مارکت و مهاجرت ها.

**روش های بهبود مدیریت سیلاب و کاهش خطرات آن**

د اوبو او انرژي فصلنامه
لسم کال اوه لسمه گڼه، د ۱۴۰۰هـ ش مالي کال څلورمه ربع چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري

سیلاب پدیده طبیعی و غیر طبیعی بوده که جوامع بشری آنرا به عنوان یك واقعه اجتناب ناپذیر پذیرفته اند، پس ما با بکارگیری اصول علمی و عملی در حوزه آبریز و شهر خود را در برابر سیلاب مصئون ساخته و خطرات آنرا به حداقل برسانیم.

با توجه به اینکه وقوع سیلاب خود ناشی از عوامل متعدد طبیعی و انسانی می باشد، بناً می توان با استفاده از اقدامات پیشگیرانه خسارات ناشی از وقوع سیلاب را کاهش دهیم.

مدیریت همه جانبه سیلاب متکی به اقدامات ساختمانی و غیر ساختمانی بوده، که این اقدامات متشکل از برنامه ها و اقدامات کاهش اثرات نا مطلوب سیلاب بر ثبات اجتماعی و رشد اقتصادی می باشد.

گرچه موضوع مدیریت سیلاب و کاهش خطرات آن در کشور مورد مطالعه جدی قرار نگرفته و تنها زمانی که سیلاب جاری می شود از روی احساسات و عواطف بشری توجه را به خود جلب می نماید، بناً ضرورت است با این پدیده برخورد مسئولانه صورت گیرد.

از همین رو پدیده سیلاب با همه پیچیدگی هایش قابل بررسی و شناخت بوده و می توان برای بهبود مدیریت سیلاب و کاهش خطرات آن و نیز بهره برداری اعظمی از آن راه حل های مناسب را جستجو کرد. با وجود اینکه بارندگی های شدید و ذوب سریع برف و یخچال ها با سایر عوامل (شناخته شده و ناشناخته) در حوزه های آبریز و شهرها می تواند سیلاب های شدید را ایجاد کند، ولی در بسیاری از موارد عوامل شناخته شده نظر به اهمیت کم خود مورد توجه کافی قرار نگرفته و بخشی از مسائل ساده و آسان باعث بروز و تشدید سیلاب ها گردیده است. فلهذا، ضرورت به روی دست گیری یك برنامه موثر جهت مدیریت سیلاب و کاهش خطرات آن در سطح حوزه آبریز و شهر محسوس گردیده که جهت تامین این امر دو روش عمده (ساختمانی و غیر ساختمانی) موجود است:

### ۱. روش ساختمانی مدیریت سیلاب و کاهش خطرات آن

روشهاي ساختماني مديريت سيلاب شامل مجموعه اقداماتي است كه منجر به كاهش خسارات و شدت جريان سيلابي شده و بدين ترتيب قدرت تخريبي سيلاب را كاهش ميدهد، علاوتاً تمام ساختمان هایی که از ورود سيلاب به داخل ساحات مورد نظر جلوگيري می کند و باعث تسهیل و تسریع دفع طغيان سيلاب مي گردد، اقدامات ساختماني محسوب مي شود.

اقدامات ساختمانی که در زمینه مدیریت سیلاب و کاهش خطرات آن مورد استفاده قرار می گیرد عبارت است از:

- اعمار بندهای یک منظوره و چند منظوره.
- ایجاد ساختمانهای تأخیری و کنترولی سیلاب.
- اعمار دیوارهای محافظوی، تحکیماتی و دکه ها.
- ایجاد ساختمان های انحراف دهنده جریان آب و پخش سیلاب.
- بازسازی تاسیسات آبی، اصلاح مسیر و مقاطع دریاها.
- لایروبی و آزاد سازی مجراهای آبی و کانالیزاسیون جهت تسهیل جریان آب.
- جمع آوری آب باران و برف در ساحه آبریز و شهر.
- غرس نهال، توسعه و انکشاف جنگلات و پوشش گیاهی.
- دیزاین پیاده رو ها با در نظرداشت منفذهای جذب آب برف و باران.

### ۲. روش غیر ساختمانی مدیریت سیلاب و کاهش خطرات آن

روشهای غیر ساختمانی به مجموعه ای از برنامه ها و اقداماتی گفته می شود که جهت مدیریت سیلاب و کاهش خطرات آن انجام می پذیرد.

اقدامات غیر ساختمانی که در زمینه مدیریت سیلاب و کاهش خطرات آن مورد استفاده قرار می گیرد عبارت است از:

- تهیه میکانیزم مناسب جهت حفظ و مراقبت تاسیسات آبی.
- تقویت نقش مشارکت عامه و خصوصی در مدیریت سیلاب و کاهش خطرات آن.
- نصب و توسعه استیشن های هایدرولوژیکی و متیورولوژیکی.
- جلوگیری از برداشت غیر اصولی و بی رویه مواد ساختمانی از بستر مجراهای آبی.
- جلوگیری از ساخت و ساز در حریم و بستر مجراهای آبی.
- ایجاد و انکشاف سیستم های پیشگویی و هشداردهی سیلاب.
- تهیه و ترتیب برنامه ها جهت مطالعه و اجرای سیستم های جمع آوری آب برف و باران.
- سروی جهت تشخیص و شناسایی نقاط آسیب پذیر.
- جمع آوری ارقام و معلومات هایدرولوژیکی و متیورولوژیکی جهت پلانگذاری مؤثر.
- ایجاد حمایت های مالی جهت روی دستگیری اقدامات پیشگیرانه کاهش خطرات سیلاب.
- آماده ساختن پلان های عمل قبل و بعد از وقوع سیلاب و خشکسالی.
- زون بندی سیلاب و مدل سازی دریاها.
- اطلاع رسانی جهت آگاهی عامه از طریق مساجد، تکایا، مکاتب، پوهنتون ها، مدارس و سایر نهاد ها مردمی.
- مدیریت چرای حیوانات در سطح علفچرها، آموزش عامه جهت حفظ جنگلات و پوشش نباتی، مطالعات خاک و زمین و ایجاد سیستم بیمه سیلاب.

### مراحل/ راه های مقابله با خشکسالی

مراحل/ راه های مقابله با خشکسالی بطور عموم در سه کتگوری تنظیم می گردد.

۱- قبل از وقوع خشکسالی.
۲- در جریان خشکسالی.
۳- بعد از وقوع خشکسالی.

د اوبو او انرژۍ فصلنامه
لسم کال اوه لسمه گڼه، د ۱۴۰۰هـ ش مالي کال څلورمه ربع چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري

# ښه مدیریت، ښه اقتصاد، ښه اداره



انجنیر همت الله امین زی

مدیریت په لغت کې د یوه سازمان د اداره کولو په مانا دی، ولې نن ورځ د انساني سازمانونو په چټک پرمختگ او ودې سره چې د تمدن د پراختیا او د اړتیاوو د روښانه کېدو له امله رامنځ ته شوی دی، مدیریت د لارښوونې اویاداسې بشپړو شوو پوهو د ټولگې په مانا دی چې له لارې یې وگړي په سازمان کې د غړ ملتیا په رامنځ ته کولو سره د هغې اغېزمنتیا ډېروي.

مدیریت د پلان جوړونې د علم اوهنر له اټکل څخه عبارت دی. مدیریت عبارت دی له تنظیم څخه د کار وېشل اوددندو ټاکل . مدیریت عبارت دی له لارښوونې او رهبری څخه تر لاس لاندې وگړو ته لارښوونه او د هغوی په زړونوکې د نفوذ پیدا کولووړتیا. مدیریت عبارت دی له څارنې او کنټرول څخه د وگړو په کړووړو څارنه او د هغوی د تېروتنو سمونه او په پای کې مدیریت عبارت دی د غړملتیا له رامنځ ته کول او د کارکوو نکو تر منځ د سیستمي کتنې رامنځ ته کول. ټول یادشوي بحثونه په سازماني سرچینو باندې ترسره کېږي چې د هر سازمان تر ټولو مهمه او ارښتناکه شتمنې دهغوی انساني منابع کارکوونکي دي اووروسته نورو ته ورته منابع لکه فزیکي، مادي او مالوماتي شتمنی په کتار کې راځي.

مدیریت په اغېزناکه اوماهرانه ډول دمادي اوانساني منابعو د لارښوونې او کنټرول د پلان جوړونې، تنظیم او د امکاناتو او منابعو د سمبالونې لړی ده چې د سازمان د موخو د ترلاسه کولو لپاره او د منلو وړ ارزښتناک نظام پر بنسټ ترسره کېږي.

**پورته یاد شوی تعریفونه لاندې کلیدي مفهومونه اوماناگانې لري:**

۱- مدیریت یوه لړی ده.

۲- د مدیریت مفهوم او مانا د انساني جوړښت لارښوونه ده

۳- اغېزناک مدیریت وړ پرېکړې کوي او غوښتل شوي پایلې ترلاسه کوي

۴- مدیرانه تخصیص او لگښت ته گټور مدیریت وایي

۵- مدیریت په موخو لرونکو کړنو باندې تمرکز کوي

**دمدیر دندې:**

__پلان جوړونه:__ پرېکړه کول چې باید کوم کارونه ترسره شي.

__نظم او ترتیب:__ نظم داسې لړی ده چې په بهیر کې یې د وگړو او کاري ډلو تر منځ د کار وېشل او د موخو د تر لاسه کولو په اړه د هغوی تر منځ غړملې رامنځ ته کېږي.

__لارښوونه او رهبري:__ دا دنده یعنې د سازمان د موخو د تر لاسه کولو په اړه ترلاس لاندې وگړو ته د انگېزې او ذوق د رامنځ ته کولو لپاره د مدیر هڅې.

__کنټرول:__ کنټرول غوښتل شوو موخو ته د رسېدو یوه منظمه هڅه ده.

**دپروژې د مدیریت تعریف:**

دوخت،لگښت اوځرنگوالي په چوکاټ کې د ځانگړوموخودترلاسه کولولپاره دپروژې پلان جوړونې او لارښوونې ته دپروژې مدیریت وایي. دپروژې په مدیریت کې کنټرول، په کړنوباندې څارنه اودکړنو لارښوونې شاملې دي او د پروژې مدیریت هڅه کوي چې له منابعو څخه په سمې گټې اخیستنې سره په ټاکلي لگښت سره ځانگړې او د انتظار وړ پایلې تر لاسه کړي. په بله توگه:

د اړتیاوو د تر لاسه کولو او پروژې د پلي کولو په اړه د کړنو د کنټرول په بهیر کې له پوهې، وړتیا، وسایلو او مهارتونو څخه گټه اخیستل د پروژې مدیریت بلل کېږي.

**د پلان جوړونې تعریف:**

د اړتیا وړ وخت په پام کې نیولو سره د یوې پروژې د پلي کولو لپاره په پرله پسې او موازي توگه د کړنو او فعالیتونو ټاکلو ته پلان جوړونه وایي.

**د پروژې د کنټرول تعریف:**

د وخت، لگښت او څرنگوالي په چوکاټ کې یوه اقتصادي تعادل ته د لاسرسي لپاره د د پروژې د تگلورې ساتل او موخو ته د رسېدو لپاره له ځانگړو وسایلو، وړتیاوو او تکنیکونو څخه گټه اخیستنه د پروژې کنټرول بلل کېږي. په حقیقت کې کنټرول د پروژې لپاره د پلان دقیقه او بشپړه اجرا ده.

**د پروژې د مدیریت طلایي قوانین:**

دا قوانین په لویو او وړو پروژو کې د مدیرانو د تجربې په بنسټ چمتو شوي او ځلا یې پیدا کړې ده. د پروژې د مدیریت بنسټونه د لاندینیو لسو قوانینو پر بنسټ جوړ شوي دي. دې قوانینو ته پاملرنه د پروژې له پیل څخه تر پای پورې ښې پایلې څرگندوي.

**لومړی قانون:**

**په ډله ییزه توگه د پروژې د موخو او پایلو څېړل!**

که پوه نه وی چې څه غواړئ ترسره یې کړې، که پوه نه وی چې کوم شیان باید بدل شي، ستونزمنه ده چې ارزښتناکه پایلې وړاندې کړئ. هغه پروژه چې پایلې یې روښانه نه وي، له ماتې سره مخ کېږي، د پروژې د بریالیتوب په لاره کې لومړی گام د پروژې د موخو ټاکل او پېژندل دي، هغه موخې چې په اړه یې په پروژه کې ټول مهم لاسپوري وگړي ورته اند ولري. یوازې دا بس نه ده چې تاسو پوه شی چې کوم کار غواړئ ترسره یې کړئ، کلیدي وگړي، مرستندویان او د پروژې غړي هم باید هغه څه چې غواړې ترسره یې کړې، په اړه یې معتقد وي او هغه ومنې.

**دوهم قانون:**

**باید تر ټولو ښه کاري ټیم چې کولای شی، جوړ یې کړئ!**

د پروژې د بریالیتوب لپاره د مسلکي، لایقو او ښو

روزل شوو وګړو د ډلې درلودل اړین دي. د پروژې ښه جوړښت د وګړو په ټاکلو سره د پروژې د مدیر له خواه پیلیږي. د وګړو په ټاکلو کې، په ځانګړې توګه د نویو پروژو په اړه باید د هغوی هوښیاري، ځواک، پوهې او تجربې ته ډېر ارزښت ورکړل شي. وګړي باید په کې د کارکولو ځواک ولري او په کې وړ مقام تر لاسه کړای شي. وګړي باید د کار په وخت کې خپله پاملرنه یوازې خپل کار ته واړوي نه خپلو ځاني بوختیاوو ته. ځینې وخت اړینه ده وګړي د کار د ښه ترسره کولو لپاره زده کړې وکړي. وګړي باید وکولای شي د پروژې په اوږدو کې په علاقې او خوښۍ سره کار ته دوام ورکړي. د پروژې مدیر باید د غړو د انګېزې د زیاتوالي په اړه اړینې تګلارې وپېژني.

**دریم قانون:**

**پلان جوړونه!**

یو بشپړ پلان د پروژې د بریالیتوب زړه هسته بلل کېږي. له پلان پرته نه شو کولای د موخو د تر لاسه کولو په اړه یو ټیم رهبري کړو. بې له شکه د یوه پلان جوړول په یوازېتوب سره کافي نه دی، ځکه چې مدیر نه شي کولای راتلونکې اټکل کړي، له همدې امله ده چې کېدای شي د پروژې پلان څو ځله بدل کړل شي.

**څلورم قانون:**

**دانسانانو اووسایلو داړتیا وړسرچینو منابعو دکچې محاسبه!**

د وګړو، وسایلو، سامانونو او کافي پانګې پرته په ټاکلي وخت د ژمنو د ترسره کولو لپاره هېڅ بله لاره نشته. مدیر باید د خپلې پروژې د انساني اړتیا وړ سرچینو د خوندي ساتلو وړتیا ولري، له دې پرته باید د سرچینو د کمښت اغېزې وڅېړي او د پروژې کلیدي وګړو ته یې ورسوي.

**پنځم قانون:**

**د رښتیني مهال وېش چمتو کول!**

مخکې له دې چې کار ترسره شي،بایدیو وړمهالوېش جوړ شي اوله مهالوېش سره سمه پرېکړه وشي. مدیر کولای شي په مناسب لګښت سره انساني سرچینې او ډېر وسایل په وخت سره چمتو کړي، اما نشي کولای په هېڅ صورت سره وخت چمتو کړي! د پروژې نردې ډېرى نا بريالي مديران وخت ته په نه پاملرنې او په وخت سره د پايلو په نه ورکولو سره خپل ډاډ له لاسه ورکوي.

**شپږم قانون:**

**هڅه مه کوئ چې له پلان شوو کارونو څخه ډېر تر سره کړئ!**

البته دا په دې مانا نه ده چې مدیر باید له اټکل شوي کار څخه کم کار وکړي بلکې مدير بايد په وخت، څرنګوالي او لګښت کې ټاکلي چوکاټونه په پام کې ونيسي. مدير بايد په پيل کې د پروژې ټاکلي ټکونه وپېژني او په کليدي وګړو يې بايد تاييد کړي. د هرې پروژې له پيل څخه مخکې باید موخې او د هغې وروستۍ پايلې د تاييد لپاره ټولو ته وړاندې شي. ټول هغه وګړي چې په پروژه کې لاسپوري دي، باید د هغه څه په اړه چې ترسره کوي يې بشپړ مالومات ولري ترڅو وکولای شي په سمه توګه خپلې دندې ترسره کړي. د مالوماتو ټولول او په وړ توګه ټولو وګړو ته د هغه رسول د پروژې د مدير له مهمو دندو څخه ګڼل کېږي.

**اووم قانون:**

**دوګړو رول په ياد ولرئ!**

د پروژې ځینې مديران د پروژې د پلي کولو په اوږدو کې له یاده باسي چې په رښتيني توګه دا پروژه د خلکو لپاره ترسره کېږي او پايلې يې د خلکو لپاره دي. د پروژې بريا د خلکو په آند پورې تړلې ده، د دې لپاره چې د بريالي پروژې مدير و اوسئ، ځان د خلکو له اندونو او لومړيتوبونو سره همغږي کړئ. هېر نه کړئ چې خلک د پروژې مديريت په غاړه لري، هغوی د کار ستره برخه ترسره کوي او خلک دي چې له ورستيو پايلو څخه به خوښ يا ناخوښ وي.

بده به نه وي چې پوه شي که د پروژې پايلې د خلکو په زيان څرګندې شي، پروژه له ماتې سره مخ کېږي.

**اتم قانون:**

**داداري د مديريت او کليدي وګړو ملاتړ تر لاسه کړئ!**

اړينه ده چې مدير د کار له پيل څخه مخکې د پروژې د کليدي غړو ملاتړ تر لاسه کړي.

د چنې وهلو او خبرو وړتيا دلته څرګندېږي. دا قانون د لومړي قانون په څېر، اما له هغه پراخ دی، مدیران دلته نه یوازې د هغوی مثبت اند تر لاسه کوي، بلکې هغوی راضي کوي چې د پروژې د مختنه وړلو په اړه د هغوی له نفوذ او ځواک څخه ګټه واخلي.

**نهم قانون:**

**بدلون ته سترګې په لاره او هیله من اوسېدل!**

داقانون ددریم قانون تر څنګ مانا لري. پروژه تل له بېلابېلو بدلونونو سره مل ده؛ چاپېریالي بدلونونه، د اړتیاوو بدلونونه، د تګلارو اونور کېدونکي بدلونونه چې په پروژه کې رامنځ ته کېږي. مدیر باید بدلونونو ته منتظر نه اوسي او وروسته له رامنځ ته کېدو څخه غبرګون ونښيي؛ غوره ده چې مديران زده کړي چې د بدلونونو په نسبت لاس مخکې وي؛ بریالي مدیران په خپله د بدلون عامل دي.

بدلون د ننی هڅانده نړۍ یو بنسټ دی. له بدلون سره مقابله او د هغه په اړه وړ ګام اخیستنه د مدير او پلان جوړوونکو هنر ځانګړی کوي. د بدلونونو او پلان د منلو په اړه د هغوی د عمل څرنګوالی، پروژه د بریالیتوب یا ناکامی لور ته کېکاږي. په یاد ولرئ چې بدلون ته لوری ورکول د پروژې د ډلې له امکاناتو سره سم کولای شي مدير او د هغه پروژې ته نجات ورکړي؛ که بدلون ته سترګې په لاره اوسي او هغه وخت غبرګون ونښيي، ډېر زيات وخت به له لاسه ورکړي. د بدلونونو د کتلو لپاره خپلې سترګې مخکې له مخکې غوړېدلې پرېږدي!

**لسم قانون:**

**دهغه څه په اړه چې تر اوسه مو ترسره کړي، وګړي خبر کړئ!**

مدير بايد په پروژه کې ټول مهم لاسپوري وګړي له پرمختګ، ستونزو او د پروژې له بدلونونو څخه خبر کړي. هغه بايد د دې ساده قانون پيروي وکړي او وګړي له ټولو ځيزونو څخه خبر کړي. د کار په نړۍ کې تر ټولو غوره ځيزونه قانون، رښتينولي او صداقت دي. غوره ده چې له ستونزو سره د مخ کېدو په وخت کې حقيقت له کليدي وګړو سره شريک کړي او له هغوی څخه د ستونزو د اواري په اړه لارښوونه او مرسته وغواړئ.

امين زی

د اوبو او انرژي فصلنامه
لسم کال اوه لسمه گڼه، د ۱۴۰۰هـ ش مالي کال غلومه ربع چې د ۱۴۴۳ هـ - ق کال سره سمون لري

# د ځـــــمکـــــې په کـــره کـی د اوبو شـــتون

## لومړۍ برخه :

کله چې څوک له هوا څخه ځمکنی کرې ته گوري هغه به د اوبو څخه ډکه د شنه رنگه ستوري په څیر ووینې

سره له دې چې د ځمکې په کره کې اوبه ډیرې دي ولې بیاهم د کمښت سره مخامخ یو پر دې باندې پوهیدل ډیر ستونزمن کار دی .



زموږ په ځمکنی کره کې د ټولو اوبو ټول حجم (۱۳۶۰۰۰۰۰۰) کیلو متر مکعبو ته رسیږي چې ددې اوبو ۹۷٪ په سندونو او بحرونو کې ځای پر ځای شوي دي او ۲٪ یې د ځمکې په قطبونو کې د کنگل او یخچالونو په څېر شتون لري او د یادولو وړ دی چې په نړۍ کې ددې اوبو یوازې ۱٪ ته انسانان لاس رسی لري چې گټه ترې واخلي.

زموږ په ځمکنی کره کې د کال په اوږدو کې د ټولو اوبو ډیره کمه برخه د اوبو په هایدرولوژیکي برخه کې ښکارنده ونډه لري، چې د خوږو اوبو سرچینې جوړوي او نورې پاتې اوبه د اوبو په دې برخه کې په ډېره سستی سره برخه اخلي چې د احساس وړ نه دی د بیلگې په توگه:

د بحرونو اوبه په ۳۰۰۰ کلونو کې یوځل، د ځمکې لاندې اوبه په ۵۰۰۰ کلونو او د کنگلونو او یخچالونو اوبه په ۸۰۰۰ کلونو کې یو ځل ونډه اخلي او یا که په ساده ژبه ووایو د ۳۰۰۰کلونه پکار دی، چې د بحرونو اوبه د اوبو په برخه کې ونډه واخلي یعنې په دې موده کې د ټولو بحرونو اوبه بدلیږي حال دا چې په اتموسفیر کې د اوبو د بخار لپاره یوازې ۹ ورځې وخت نیسي له پورتنیو ښوونو څخه داسې اټکل کیږي چې د ۳۰۰۰ کلونو په تیریدو سره د ټولو بحرونو اوبه په بخار( براس) اوړي او په عوض کې یې نوې اوبه د هغوی ځای نیسي.

هر کال ۵۰۰۰۰۰ کیلو متر مکعبه اوبه د براس په څېر هوا ته پورته کېږي، چې د هغوی ۸۶٪ د سندونو له لوري او پاتې ۱۴٪ یې د وچې له لوري صورت نیسي چې د همدې اوبو معادله اندازه بیرته د ځمکې پر مخ را اوریږي ولې ددې اوریښت کچه د ځمکې پر ټولو برخو کې یو شانته نه دي ، بلکې مختلف دي په توله کې د ځمکې د کرې د وچو برخو څخه په ټول کال کې ۷۰۰۰۰کیلو مترمکعبه اوبه په براس او په عوض کشي یې ۱۱۰۰۰۰کیلو متر مکعبه اوبه په ډول ډول بنو سره بیرته پر ځمکه را لویږي او د ټول بشر ژوند ددې دواړو په توپیر(۴۰۰۰۰) کیلو مترمکعبو چې د څښاک اوبه جوړوي تړلې دي. که د اوبو دا اندازه په نظر کې ونیسو د نړۍ د ٦ ملیاردو وگړو، چې د هر وگړي لپاره ٦۵۰۰ متره مکعبه اوبه رسیږي؛ ولې په خواشینی سره چې په ځینو برخو کې ددې کچې اندازه صفر ته ور نیږدې کېږي، حال دا چې د نړۍ په نورو برخو کې دا اندازه زرگونو متره مکعبو ته رسیږي، د اوبو همدا نا انډوله ویش دی، چې زموږ په ځمکنی کره کې د ټولو هېوادونو په عمرانی او پراختیایي برنامو کې ستونزې زیږوي یا جوړوي.

ویل کیږي چې په اوسني حال کې د اوبو په هایدرو لوژیکي برخه کې د بشر او انسان تاثیر او یا ونډه په هیڅ ده، که څه هم کم کم د انسانانو له لوري څه نا څه بدلونونه را منځته شویدي او که دا بدلونونه ومنل شي یو تیروتنه به وي او همدارنگه څو کلونه وړاندې د نړۍ په ډېرو برخو کې څیړنې تر سره شویدي چې مصنوعي وریځې را منځته کړي تر څو چې په ځینو وچو کې د اوریښت لامل شي؛ مگر بیا هم د دې ډول هلو ځلو څخه پوره گټه نه ده تر لاسه شوې او د نړۍ په ډېری سیمو کې له همدې ډول هلو ځلو څخه لاس اخیستل شوی دی. نو اړینه بریښي، چې په هر وخت او هر ځای کې د اوبو د شتون پر نسبت ، د هم هغو طبیعي شرایطو له مخې برنامې او پروگرامونه تر لاس لاندې ونیول شي او دا چاره یوازې په طبعیت کې د اوبو د برخې د شته قوانینو په پیژندنې سره کیدلای



لیکوالی دیپلوم انجنیر محمد خان «غورځنگ»

شي یعنې د همدې هایدرولوژیکي قوانینو او په هغوی پورې اړوندو علومو په نظر کې نیولو سره کولای شو، چې په هره سیمه کې د اوبو څخه د گټې اخیستنې بنې پایلې تر لاسه شي. مثلاً که وغواړو چې یو ښارگوټي ته د څښاک اوبه برابرې کړو لومړی باید د اوبو د ډول ډول سرچینو او په دې اړه انجنیران وپیژنو؛ او که چیرته هلته د اوبو د غونډولو لپاره غرنی سیمې شتون ولري، د اوبو د پیدا کولو لپاره د هغوی ظرفیت( وړتیا) باید وڅیړو او په دې اړه یو لړپوښتنو ته ( په دې حوزه کې څومره اورښت منځته راځي؟ د وچکالي د عمر اوږدوالی څومره دی؟ د اورښتونو د پیلیدو او ډیروالی څومره دی؟ په کومه کچه براس او څومره بیرته ځمکې ته جذبیږي؟ او ایا ددې اوبو د غونډولو په صورت کې د ځمکې لاندې اوبو ته خو به کوم زیان نه رسیږي؟) سم او اړین ځوابونه پیدا کړو؛ بیاهم د پوښتنو دا لړۍ پر همدې ځای پای ته رسیدونکي نه دي؛ بلکې یو لړ نورې پوښتنې هم باید مطرح شي د بیلگې په توگه د ذخیرې ټول حجم باید څومره وي د سیلاب د راتلو ظرفیت څومره باید وټاکل شي او یا د رسوباتو د راغونډیدو په صورت کې چې د بند کاسه ډکه کړي، د بند عمر څو کاله باید وټاکل شي دې ټولو او دیته ورته لسگونو نورو پوښتنو ته یوازې د هایدرولوژي د حاکمو قوانینو له مخې کولای شو سم ځوابونه ورکړو . او دا د هایدرولوژی په برخه کې د هایدرولوژیستانو او انجنیرانو دنده ده، چې دې ټولو پوښتنو ته سم او پرځای ځوابونه ورکړي.

د هایدرولوژیستانو او انجنیرانو دندې هغه وخت اهمیت پیدا کوي کله چې موږ مخامخ د اوبو د کمښت ، وچکالی د پیښیدو او یا د سیلابونو د راتلو پر وخت له دې ډول ستونزو سره لاس او گریوان شو.

باید په یاد ولرو، چې اوبه په طبعیت کې یوازې یوه

دنده سرته نه رسوي او نه شو کولای داسې وانګیرو هغه اوبه چې له یوې نقطې څخه تیریږي کولای شو هغه ټولې مهار کړو؛ او یا یې مصرف کړو ځکه چې ممکن دا اوبه په لاندنیو برخو کې د اکولوژیک ( چاپیریال) له مخې نورې دندې هم ولري.

او یا یې سرته ورسوي چې تر اوسه موږ له هغوی څخه غافل او یا خبر نه لرو.

د ژوند په چاپریال دېرى داسې ستونزې شتون لري چې د هایدرولوژیکي برنامو د سرته رسولو په وخت کې ، منځته راځي لامل یې دا دی چې موږ د اوبو د هایدرولوژیکي برخې له شته قوانینو څخه بې پروا عمل کوو چې په ډیرو هیوادونو کی د یـو لړ ورانــیو لامل ګرځـــــي !!

**دوهمه برخه :**

د افغانستان اوبه ،د افغانستان د اوبو حوزې، له نورو هېوادونو سره ګډې اوبه، د ګاونډیو هېوادونو اندېښنې:

افغانستان د هغو هېوادونو په کتار کې دی، چې له نورو هېوادونو سره ګډې اوبه لري او د نړۍ له ۲۶۳ فرامرزي یا له نورو هېوادونو سره د ګډو سیندونو څلور هغه یې په افغانستان کې دي .افغانستان د سیمې په داسې نقطه کې پروت دی، چې د ګډو اوبو د حوزو کابو ټولې سرچینې هم په هېواد کې دننه دي او وروسته ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي .یوازې د کابل حوزې یوه برخه د پاکستان له چترال څخه سرچینه اخلي. همدا لامل دی، چې له نږدې ټولو ګاونډیانو سره د اوبو د وېش ستونزه هم لري. له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د وېش ستونزو، له نورو هېوادونو سره پر دوه اړخیزو اړیکو، په تېره بیا له دوو ګاونډیو (ایران او پاکستان) سره ژورې اغېزې ښندلې دي.

له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د وېش پر موضوع ستونزې داسې مهال دي، چې د بېلابېلو لاملونو له کبله په هېواد کې دننه د اوبو اړتیا او اهمیت ورځ تر بلې زیاتېږي. له یوې خوا افغانستان د اوبو له پراخو سرچینو سره سره، د څلورو لسیزو او امنیتي بې‌ثباتیو له کبله له خپلو اوبو څخه پوره ګټه نه ده اخیستې؛ او له بلې خوا په نړیواله کچه د اقلیمي بدلونونو له کبله افغانستان هم د وچکالۍ ځپلو هېوادونو په کتار کې دی. او دغه وچکالۍ کال په کال زیاتېږي. د وروستیو کلونو وچکالیو په ټول هېواد کې د ورښتونو او په پایله کې یې د ځمکې د سطحې د اوبو پر کچه خورا منفي اغېزې کړې دي. دغو وچکالیو د هېواد نږدې نیمایي نفوس په تر ۲۰ ډېرو ولایتونو کې ځپلی او له کبله یې په ډېرو سیمو کې خلک کډوالۍ ته اړ شوي دي.

د هېواد خراب اقتصادي وضعیت او د دغه وضعیت په ښه کولو کې د اوبو خورا مهم رول هغه قضیه ده، چې په وروستیو کلونو کې یې د اوبو د مدیریت او له ګاونډیو هېوادونو سره د وېش د مسئلې اهمیت لوړ کړی دی. افغانستان دا مهال یوازې د برېښنا پر واردولو هر کال ملیونونه ډالره ګاونډیو هېوادونو ته ورکوي او کابو ۸۱ سلنه د اړتیا وړ برېښنا له ایران، ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان څخه واردوي .د افغانستان د برېښنا شرکت د شمېرو له مخې، یوازې له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې نږدې یو ملیارد ډالره په وارداتي برېښنا لګول شوي دي. په داسې حال کې چې په هېواد کې دننه د اوبو د سم مدیریت په صورت کې د اوبو له بندونو څخه د ۲۳ زره مېګاواټه برېښنا د تولید وړتیا شته ده.

په افغانستان کې د اوبو د مدیریت شدیدې اړتیا ته په کتلو سره، د افغانستان اوسنی نظام ( د افغانستان اسلامي امارت) ته اړینه ده، چی دغې قضیې ته د تېر په پرتله یو څه زیاته پاملرنه وکړي. د اوبو د کچې ټیټوالي ترخنګ، همدا لامل هم دی، چې له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو شخړو او ناندریو او د اوبو د منصفانه وېش قضیې ته پاملرنه وشی.

اوس مهال د اوبو پر قضیه تر ټولو ډېرې ناندرى د ایران او افغانستان ترمنځ رواني دي او د پاکستان هـــــواد هم دې ډګـر ته رادانـګـلي دي. د ایران ولسمشر د ۲۰۱۷ کال د جولای په ۳مه، په ایران کې له ګرد او غبار سره د مبارزې د چاپېریال ساتنې په یوه نړیوال کنفرانس کې، چې د ۲۴ هېوادونو د استازو په ګډون جوړ شوی وو، په صراحت سره وویل، چې په افغانستان کې د اوبو د زیاتو بندونو د جوړولو پر وړاندې بې تفاوته نه شي پاتې کېدای. د ده په وینا، «په افغانستان کې کجکي، کمال خان، سلما او نور بندونه د ایران پر خراسان، سیستان او بلوچستان ولایتونو منفي اغېزې ښندي او د دغو منفي اغېزو په اړه چوپ نه شو پاتې کېدای . د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف هم د ۲۰۱۸ کال په مې میاشت کې وویل: «که د هلمند د اوبو په تړاو خبرې پایله ونه لري، هېواد به یې په دې اړه متقابل اقدام او سختګیري وکړي.» له دغو څرګندونو څخه موده وروسته یو ځل بیا نومورې ورته خبره وکړه او ګواښ یې وکړ، چې د هلمند سیند د اوبو د حق ترلاسه کولو لپاره به له ټولو ممکنه لارو کار واخلي

داسې انګېرنې شته دي، چې له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو پر سر شخړې به په راتلونکو کلونو کې لا ډېر زور واخلي، ځکه له یوې خوا په افغانستان او سیمه کې وچکالي په زیاتېدو ده، د اوبو کچه کمه شوې او د کمېدو په لور روانه ده؛ او له بلې خوا د اوبو د کچې د ټیټوالي له کبله اړینه ده، چې د افغانستان اسلامي امارت د اوبو مدیریت ته پاملرنه زیاته کړي ترڅو د اوبو پر سر د ګاونډیو سره د ناندریو کچه راکمه ، او د اوبو د مدیریت لپاره د وخت د غوښتنو سره برابر اړین ګامونه پورته شی تر څو چې د ګاونډیو سره د اوبو پر سر ستونزو ته یوه ښه د حل لاره پیدا شی.

دا چې د افغانستان ګاونډي هېوادونه له افغانستان سره د ګډو اوبو په تړاو څه اندېښنې لري؟ د دوی دغه اندېښنې د شته قوانینو او توافقاتو له مخې څومره پر ځای دي؟ او له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د شخړو اغېزې څه دي؟ هغه پوښتنې دي، چې په راتلونـکـی وخت که به هڅه کوو د افغانستان د اوبو د اوسني او احتمالي راتلونکي وضعیت د روښانه کولو ترڅنګ یـو څـه ولیکـو .

باید یادونه وکړو، چې د افغانستان اسلامي امارت مسؤلینو په تیره بیا د اوبو او انرژي وزارت په وار وار د مطبوعاتي اعلامیو له لارې ویلي دي چې د ۱.۱.۱ د ایران له اسلامي جمهوریت سره د هلمند سیند د اوبو په اړه د افغانستان او ایران دولتونو ترمنځ د ۱۳۵۱ هـ ش کال تړون ته په بشپړه توګه ژمن دي، او تل هڅه کوي چې د یاد تړون په بشپړه توګه عملي شي.

نور بیا په بله ګڼه کې....

# د هلمند د اوبو د تړون د تطبیق پر وړاندې خنډونه او حل لارې



استاد برکت الله "آریوبی"

**لنډیز**

د هلمند سیندنیزه حوزه د هېواد یو له لویو حوزو څخه ګڼل کیږي، چې د هېواد ۴۰سلنه عمومي مساحت تر پوښښ لاندې نیسي او د دې هېواد په هایدروپولیتیک کې ځانګړې ونډه لري. دا یوازینی سیند دی چې افغانستان یې په اړوند رسمي تړون (معاهده) له خپل غربي ګاونډي (ایران) سره لري .

د هلمند سیند د هزاره جات سیمې د کابل په شمال لویدیځ کې د بابا او پغمان له لوړو څخه سرچینه اخلي، چې د افغانستان په مرکزي برخه کې قرار لري او د کندهار، هلمند او نیمروز له ولایتونو څخه تیریږي. دا سیند د افغانستان او ایران ګډې پولې ته رسیږی او په پای کې نږیوالو ډنډونو(هامونه) ته لویږي. افغانستان په ۱۹۷۳م کې له ایران سره د هلمند سیند په اړه له ډیرو خبرو اترو وروسته وکولای شول د ایران د حقابې په هکله تړون لاسلیک کړي. په افغانستان د تیرو دوه لسیزو ناخوالو او بهرنیانو اشغال راهیسې د دواړو هیوادونو اړیکې ترینګلې او لوړې ژورې درلودې. د دواړو هېوادونو ترمنځ په اړیکو کې یو مهم فکتور اوبه دي چې ایران په وار وار د افغانستان څخه شکایت کړی او دا هېواد یې متهم کړی چې ګواکې افغانستان د هلمند اوبو تاریخي تړون ته ژمن نه دی. په ورته وخت کې افغان لوری ځان د هلمند اوبو تړون ته ژمن بولي او پر ایران پړه اچوي چې ګواکې د هلمند اوبو تړون سل سلنې تطبیق ته ژمن نه دی او همدارازپه تیرو څو لسیزو کې یې د تړون خلاف ډیره حقآبه ترلاسه کړې ده. همدې لپاره اړینه ده چې وپلټل شي د هلمند اوبو تړون څنګه رامنځته شوی، ولې تر دې دمه سل سلنه نه دی پلی شوی او د تطبیق پر وړاندې یې پراته خنډونه کوم دي؟ څنګه کولای شو دا خنډونه له منځه یوسو؟ تر څو له یوې خوا افغانستان توانیدلی وي چې د خپلو اوبو سرچینو څخه د هېواد په بیارغونه او سوکالی کې کار واخلي او له بل لوري د تړون تطبیق په پایله کې د افغانستان او ایران ترمنځ د اوبو سربیره نورو برخو کې هم همکاریو ته لار هواره شي. په دې څېړنه کې هڅه شوې چې هغه ستونزې او خنډونه چې د هلمند اوبو تړون پر وړاندې پراته دي، په نښه شي او حل لارې ورته وړاندیز شي. اقلیمي بدلونونه، د هلمند اوبو تړون له مخې د اوبو اندازه ګیری ګډو تآسیساتو نشتون، د دواړو هېوادونو ترمنځ د اعتماد او ډاډ نشتوالی، سیاسي ستونزې، ایران له لوري د هلمند اوبو څخه ډیره ګټه اخیستنه، د ایران له لوري اوبه د دیپلماسی یو ابزار په توګه کارول، پر هلمند اوبو د ایران ډیره اتکا، د افغانستان غیرمتوازن پرمختګ او ... تهول هغه لاملونه دي چې د هلمند اوبو تړون تطبیق پر وړاندې د خنډ په توګه یادیدای شي. د تړون سل سلنه تطبیق په پار اړینه ده چې اړخونه په تړون کې د راغلیو میکانیزمونو مطابق د اوبو ورکړې دریو ځایونو ګډ تآسیسات ورغوي، دواړه لورې په ګډو تکو او منافعو تمرکز وکړي، خپلې اقتصادي او سوداګریزې اړیکو ته پراختیا ورکړي او د ښه نیت له مخې په خپلو ژمنو عمل وکړي.

**بنسټیز مفاهیم:** د هلمند اوبو تړون ، د هلمند اوبو کمیساران ، نړیوال حقوق ، د هلمند دلتا کمیسون، سیاسي ستونزې

**سریزه**

افغانستان او ایران د دوه ګاونډیو په توګه د تاریخ، کلتور، ژبې، عقیدې له پلوه سره مشترکات لري. د دې ګډو ارزښتونو سره سره د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې نانډریزې وي. د دواړو هېوادونو په اړیکو کې یو مهم فکتور اوبه دي. افغانستان له خپل دې لویدیځ ګاونډې سره شاه وخوا ۹۳۶ کیلومتره مربع ګډه پوله لري چې په ۱۹۳۵ کې د دواړو هېوادونو ترمنځ فخري کربنه د رسمي پولې په توګه ومنل شوه. دا دوه ګاونډیان د وچې پولې سربیره شاه خوا ۳۵ کیلومتره اوبیزه ګډه پوله لري[1] چې د ۱۸۷۰ لمریز کال راهیسې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو وېش پر سر نانډری رامنځته شوې دي چې په پایله کې دواړه هېوادونه وتوانیدل کابو د یوې پیړۍ اوږده مزل وروسته په ۱۳۵۱ هـ - ش قمري کې د هلمند اوبو وېش پر سر توافق ته ورسیږي او په دې توګه یې یوه نړیواله معاهده امضا کړه. د دې معاهدې پر اساس اړخونه باید د تړون تطبیق او اړوند برخه کې ستونزو حل په موخه د اوبو کمیساران وټاکي. که څه هم دا کمیټه ونه توانیده چې د ستونزو له کبله په ځانګړې توګه په افغانستان کې د شته بې ثباتیو په وجه غونډې ترسره کړي، لیکن په لومړي ځل دواړه لوري وتوانیدل چې په ۱۳۸۳ هـ - ش کې د هلمند اوبو تړون کمیسارانو لومړۍ غونډه ترسره کړي. تر دمګړۍ پورې دروېشت غونډې ترسره شوې چې په نوبتي بڼه کابل او تهران کې دایرې شوې دي او بیلابیل مسایل یې تر بحث لاندې نیولې دي. همدارازاړخونو د کمیسارانو فرعي کمیټې په جوړیدو هوکړه کړې چې تر اوسه یې ۲ یا ۳ مشترکې غونډې کړې دي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې باورۍ شتون له کبله ډیرې کامیابې غونډې نه شي حسابیدای.

سره له دې چې د افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند اوبو پر سر رسمي نړیوال تړون شتون لري لیکن وخت ناوخت اړخونه یو بل د معاهدې په نقض تورنوي او طرفینو وار په وار په رسمي او غیر رسمي بڼه له یو بل غوښتې چې د تړون مفادو پر وړاندې ژمن پاتې شي. ایران ، افغان لورۍ تورنوي چې د ۱۳۵۱ کال تړون له مخې یې حقآبه نه تآمینیږي، په داسې حال کې چې افغانستان تل د تړون په سل سلنه تطبیق ټینګار کوي او ادعا لري چې ګواکې ایران د تیرو څو لسیزو بې ثباتیو له کبله له افغانستان څخه د تړون څو چنده اوبه اخلي او دا ستونزه هلته لا جدي شوه چې افغان لورۍ د خپلو اوبو سرچینو مدیریت په برخه کې کوټلې ګامونه واخیستل په ځانګړې توګه د کمال خان بند کاسه کې د اوبو ذخیرې وروسته ایراني لوري بیلابیل رسمي او غیر رسمي اعتراضونه کړې چې ګواکې افغانستان یې د تړون مطابق حقآبه نده تآمین کړې. د ایران جمهور ریس په زغرده په یوه علمي کنفرانس کې دا مسآله راپورته کړه او په هلمند او هریرود مغرغاب سیندونو باندې یې د افغانستان له لوري د بندونو جوړول نېوکه وکړه او زیاته یې کړه چې د ایران لپآره دا ډول اقدامات هیڅ کله د منلو وړ نه دي.[1] سربیره پر دې د ایران باندنیو چارو وزارت په رسمي یادښت کې له افغان لوري څخه په ځلونو غوښتنه کړې چې د هلمند اوبو تړون مفادو ته دې ژمن پاتې شي او د ایران حقآبه دې ورکړي. دا په داسې حال کې ده چې افغان لوري تل له ایران سره د ښو او دوستانه اړیکو په درلودلو ټینګار کړی او د اسنادو او څېړنو پرمټ یې جوته کړې چې ایراني لوري په تیرو څو لسیزو کې په افغانستان کې د بې ثباتیو څخه په ګټه اخیستنې د

تړون خلاف څوچنده حقآبه ترلاسه کړې ده او وايي چې په سيمه او نړۍ کې د اقليمي بدلونونو، ايراني لوري له لوري د هلمند اوبو څخه په بې رويې توگه گټه اخيستنې، د ايران له لوري د نيمه څاگانو کيندنه او په غيرقانوني توگه د هلمند اوبو څخه استفاده او پر هلمند اوبو د ايراني لوري اتکا ډيروالی د دې سبب شوی چې هلمند سيند د پخوا په شان ډيرې او پريمانه اوبه ونه لري. له بل اړخه که چيرې دا بې اعتمادی او تورونه ډيرېږي ممکن د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو په نورو برخو هم اغيزه وکړي او په تير کې داسي راپورونه هم موجود وو چې گواکې ايران د افغانستان غرب کې د ناامنيو په رامنځته کولو کې لاس لري تر څو په دې طريقه کړای شي په دې هېواد کې د اوبو منابعو مديريت مخه ډب کړي.[1]

اوس مهمه پوښتنه داده چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د رسمي تړون شتون سره سره بيا هم ولې دا ستونزه تر دې ځايه رسيږي چې د دواړو هېوادونو اړيکې ترينگلې کړي او د دې تړون تطبيق پر وړاندې کومې ستونزې او خنډونه شتون لري؟ د تړون تطبيق په پار کومې حل لارې وړانديز کيدای شي چې له مخې يې تړون تطبيق او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو پراختيا سبب شي؟ مونږ په دې څېړنه کې هڅه کړې چې پورتنيو پوښتنو ته ځواب ومومو تر څو پايلې يې له مسؤلينو او خلکو سره شريکې شي او په دې توگه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اعتماد فضا احيا او هراړخيزې اړيکې پراخوالی ومومي.

**د هلمند تړون تاريخچه:**

له هغه ځايه چې د هلمند سيند پوله تيريدونکی دی يعني د دوه هېوادونو( افغانستان او ايران) ترمنځ بهيږي، نو ځکه د اوبو وېش او کارونې په اړه يې له ډېر پخوا راهيسې د نومړو هېوادونو ترمنځ ناندرې او اختلافات رامنځته شوي دي. د افغانستان او ايران ترمنځ د دې موضوع پر سر په لومړي ځل په ۱۸۷۲ م کې اختلافات رامنځته شول. د دې اختلافاتو د حل په موخه طرفينو په مستقيمو دوه اړخيزه مذاکراتو لاس پورې کړ چې نتيجه يې ورنکړه او همداوه چې دا موضوع نړيوال حکميت ( international Arbitration) ته راجع شوه او د همدې حکميت له مخې دا موضوع حل شوه. وروسته بيا په بيلابيلو وختونو کې د هلمند اوبو پر سر جنجالونه او منازعات بيا رامنځته شوي دي. طرفينو په لسيزو کې په دې اړه مذاکرات کړي او لويو قدرتونو هم په دې اړه د حکميت او منځگړي رول په موخه خپلې هڅې نه دي سپمولې. دا پروسه بالاخره په ۱۹۷۳ کې کامیابه شوه.

په مجموع کې د دې موضوع د حل لپاره تر اوسه ۵ مهم سندونه شته چې هر يوه ته به يې په لنډه اشاره وکړو.

**د مکمهان مينځگړيتوب۱۹۰۵:**

د گولد سميت حکميت پر اساس، افغانستان نور نه شوای کولای چې په هلمند سيند نور تاسيسات ورغوي. د دې سند په يوه برخه کې راغلي دي: « دا بايد کاملاً درک شي چې د دواړو لوريو له لوري بايد هيڅ داسي کار ونه شي چې پايله يې د دواړو خواوو د اړتيا وړ اوبو کې دخالت وي». دا چې افغانستان بر پروت[1] هېواد دی، نو ځکه دا قضاوت د افغانستان په ضرر وو. په حقيقت کې دا نظريه د Absolute sovereign integrity دوکتورينو پر اساس شوې وه چې له مخې به يې برنی هېواد اړ دی د اوبو طبيعي جريان خونډي وساتي او هيڅکله د اوبو منابعو مديريت ته زړه ښه نه کړي. دا نظريه ډيره يواړخيزه ده نو ځکه ننۍ ورځ مطروده شوې هم ده. د دې سند په يوه بل اړخ کې راغلي وو چې دا موضوع به تيرو او موجودو نهرونو او بندونو ته نه شامليږي، په دې شرط چې د ايراني سواحلو اړخ ته د اوبو کمښت لامل نه شي. دا سند د هلمند سيند اوبو قضيه کې مهم او لومړنی سند دی چې د مقدمې سربيره، اصلي متن ۸ مادو او ۹ فقرو درلودونکی وو. که په لنډه يې ووايو، د گولد سميت حکميت په حقيقت کې د هلمند سيند سم نيمايي اوبه ايران حقابه تعين کړې وي. [1]

**د ايران او افغانستان ترمنځ عهد نامه :**

په ۱۹۰۲ کې د ايران او افغانستان ترمنځ د هلمند اوبو پر سر يو ځل بيا اختلاف رامنځته شو چې په پايله کې د مکمهان حکميت له مخې حل او فصل شو. د دې اختلاف دليل داوو چې په «دلتا» کې هلمند سيند خپل مسير ته تغير ورکړ. د دې اختلاف له منځه وړلو په پار يو ځل بيا له انگليس څخه د حکميت غوښتنه وشوه. هغه هېواد هم په ۱۹۰۵ کې مکمهان د يو هيئت په سر کې تعين کړ چې دې موضوع ته رسيده گي وکړي. د دې حکميت له مخې: د هلمند اوبه دوه برخې يې افغانستان او يوه برخه يې هم ايران ته ځانگړې شوې. يعني ٦٦،۵ سلنه اوبه افغانستان او ۳۳،۵ هغه يې ايران ته ورکړل شوې.

دا حکميت د افغانستان له لوري د وخت حاکم امير حبيب الله سراج الملت و الدين په ۱۹۰۵ کې هندي وايسرای ته په يو ليک کې ومانه، ليکن يوائې د ۵ مې مادې په اړه خپل ملاحظات روښانه کړل چې گواکې دا مسأله گونگه ده. په پنځمه فقره کې يادونه شوې وه چې انگليسي افسر دې اجازه ولري تر څو کمال خان بند پورې لاړ او راشي هغه څه چې امير ته د منلو نه وه، نو ځکه يې دا ماده امضا او قبول نه کړه. د يادولو ده چې ايراني لوري دا سند رد کړ او ويې نه مانه.

**د هلمند د دلتا کميسيون۱۹۵۱:**

د هلمند سيند اوبو په اړه اختلافات ددې سبب شول چې دا موضوع يو ځل بيا په ۱۹۵۱ کې امريکا ته د حکميت لپاره راجع شي. متحده ايالاتو په هماغه کال کې درې کسيز هيئت چې د چيلي هېواد تبعه فرانسيسکو گويز، رابرې لورې د امريکا تبعه او کريستو فروب د کانادا هيواد څخه وه تشکيل شو او د «دلتا بې پلوه کميسون» تر نوم لاندې يې خپل کار ته ادامه ورکړه. د دې کميسون فيصله يوائې « سيستان او چخانسور» پورې محدوديږي. دې کميسون د اوږده تحقيق او مطالعې وروسته خپل نهايي راپور تهيه کړ او ايران يې په ثانيه کې د ۲۲ مترمکعبه اوبو مستحق وباله. همداراز دې کميسون د افغانستان له لوري جوړ شوي بندونه او انهار هم تاييد کړل.د يادولو ده چې د راپور جوړولو په وخت کې کجکي بند د کار لاندې وو. کميسون د راپور په پای کې د مسألې اساسي حل او په دې برخه کې د مذاکراتو دوام لپاره يو سلسله وړانديزونه لرل چې له طرفينو پکې غوښتل شوي وو چې په دې اړه خپل تماسونه جاري وساتي او يوه معاهده رامنځته کړي.

پورتنی راپور د افغان دولت له لوري تاييد او ايراني لوري يې يوائې مشورتي وباله، هغوی زياته کړه چې د دې کميسون پايلې او موندنې حقيقي نه دي، د يو طرف غوښتنې پکې په نظر کې نيول شوي، نو ځکه ورته د منلو نه دی.

**د هلمند تړون ۱۳۵۱:**

د هلمند سيند وچکالی او د اوبو کمښت د دې لامل شوی چې په ۱۹۷۱ کال کې د افغانستان او ايران ترمنځ شخړې گړندی شي. د همدې لپاره په کابل کې د هلمند د اوبو د جبهه تر نامه لاندې غونډې جوړې شوې. د روزگار د جريدې مسؤل ، محمديوسف فرند سياسي گوندونو ته بلنه ورکړه چې د هلمند د اوبو په اړه بحث وکړي. ايران هم سياسي فشار وارد کړی وه. او د گولډ سميټ له قضاوت سره سم يې د اوبو غوښتنه کوله. په ۱۹۷۲ (۱۳۵۱) کال کې ، د هلمند د اوبو د جبهې په نامه په کابل کې غونډې جوړې شوې ، اعضای يې له سياسي گوندونو او تخنيکي کارپوهانو څخه جوړی وې ، چې پايله يې د افغانستان او ايران تر منځ د ۱۳۵۱ تړون لاسليک کيدل دي.[1]

**د ۱۳۱۵ څخه تر ۱۳۱۸ پورې مذاکرات:**

د مکمهان حکميت څخه وروسته د هلمند اوبو په اړه وضعيت تر ۳۰ کلونو پورې په جاريه حوادثو پورې تړلی

وو او يوائې په وچکالۍ کې به دا موضوع د دواړو لورو پام وړ ګرځېده. د مکمهان حکميت هم ونه شوای کولای چې په بنيادي توګه دې ستونزې ته د پای ټکی کيږدي او دا اختلافات لا هم دوام درلود، چې بالاخره په ۱۳۱۷ کې د دوه هېوادونو ترمنځ يو تړون رامنځته شو. د دې تړون له مخې: افغانستان مکلف وه چې نيمي اوبه ايران ته ورکړي. دا تړون ۱٦ مادې درلودې او د افغانستان له لورې علي محمد خان بهرنيو چارو وزير، ايراني لورې باقر کاظمي کابل کې ايران سفير د معاهدې امضا لپاره تعين شول. دا معاهده د يوې اعلاميې سره مل وه چې په لومړۍ ماده کې يې راغلي دي: « دولتين، ايران او افغانستان موافقه کوي چې په کلني ډول هر څومره اوبه چې د هلمند سيند څخه کمال خان بند ته رسيږي، د افغانستان او ايران ترمنځ ته په برابره توګه وويشي.» ليکن دا اعلاميه د افغانستان ملي انجمن له لورې و نه منل شوه نو ځکه يې پلي کېدل له ستونزو سره مخ شول او د بهرنيو چارو وزارت په ٦١٦ نمبر يادښت په وسيله ايراني لورې ته د خپل نيت څرګندولو په اړه توضيح کړه چې دا اعلاميه د قبول نه ده او تطبيقي مورد نه لري.

**د هلمند اوبو مسأله او امنيت شورا:**

په ۱۳۲٦ هه ش کال کې کله چې مصطفی عدل په ملګرو ملتونو کې د ايران په استازيتوب امريکا ته روان وو، پر هغو تيزو يادښتونو سربيره چې د افغانستان دولت ته وکښل شول( د يادښت منځپانګه: د ګولدسميت له حکميت سره سم چې دواړو خواوو منلی وو، د افغانستان دولت ته د هلمند سيند په پورتنی برخه کې د داسې اقدام اجازه نه ده ورکړل شوې، چې د ايران اوبو کمښت لامل وګرځي، که چيرته له نوموړو اقداماتو مخنيوی ونه کړي شاهنشاهي دولت په اړينو وسايلو سره د خپل حق د استيفا( اجرا) په لټه کې کيږي). عدل ته يې د دولت له لورې دنده وسپارل شوه چې موضوع امنيت شورا ته وړاندې کړي.

په ملګرو ملتونو کې د ايران دايمي استازي نصرالله انتظام او د هغوی په عمومي مجمع کې د ايران استازي مصطفی عدل په هغو دلايلو چې سره چې وړاندې يې کړه د امنيت شورا کې د مسألې طرح لازمه ونه ګڼله. دوی فکر کاوه چې د اختلاف څرنګوالی د ملګرو ملتونو منشور ۳۳ مادې له روح سره سم نه دی چې له مخې يې غړي هېوادونه بايد هغه اختلاف چې نړيواله سوله او امنيت ګواښي؛ شورا ته راجع کړي او يا دې د شورا توصيه ومني. کله چې ايران په امنيت شورا کې د ستونزې ارجاع څخه تير شو، ورسره هممهاله د امريکا لوی سفير جورج آلن د خپل دولت په لارښونه د ايران د وخت صدراعظم سره ليدنه وکړه او څرګنده يې کړه، په هغه صورت کې چې د ايران او افغانستان استازي وغواړي په واشنګټن کې د خپلو اختلافاتو د لرې کولو لپاره خبري اترې پيل کړي، د امريکا دولت به د دې مسألې حل لپاره هراړخيزه مرسته وکړي.

د ايران دولت د امريکا وړانديز هرکلی وکړ او په واشنګټن کې يې خپل مختار وزير ته د خبرو اترو ماموريت پيل وسپاره. د امريکا بهرنيو چارو وزارت په ۱۳۲٦ کې ايران سفارت ته په يوه يادښت کې د ځينو مهمو پوښتنو ځواب غوښتونکی شو:

« د سيستان کرني سطحه څومره ده، هغه اوبه چې سيستان ته رسيږي د ځمکو خړوبولو لپاره بسنه کوي يا د ايران دولت د هلمند له اوبو څخه د زياتې برخې دعوه کوي. آيا ايران چمتو دی چې د شته اوبو د کچې لګښت په اړه د يو بې طرفه کميسون څېړنې پايلې ومني. د توافق په صورت کې آيا چمتو دی چې د دې کميسون يوه اندازه لګښتونه ومني له مؤقتي او دايمي موافقتنامو څخه کومې يوې ته ترجيح ورکوي او دا موافقتنامه په څرنګه او څه ډول تنظيم شي».[١]

امريکايانو ورته پوښتنې له افغان دولت څخه هم کړې وې. ايراني دولت نوموړو پوښتنو ځوابونه برابر او د امريکا بهرنيو چارو وزارت ته يې تسليم کړل. د افغانستان او ايران دولتونو موافقه کړې وه چې له بې پلوه هېوادونو له متخصصو اتباعو دې يو درې کسيز ګډ کميسون وټاکل شي چې له پيله تر پايله د هلمند سيند وېلتې او له هراړخيزې څېړنې وروسته خپل نظرونه او وړانديزونه دواړو مدعيانو ته وسپاري.

**د هلمند تړون ارزونه:**

